# د عیسی مسیح په هکله د یوحنا انجیل

## د کتاب پېژندنه

دا انجیل د یوحنا له خوا چې د عیسی مسیح د ډېرو نژدې شاګردانو څخه ؤ، د پنځه اتیا میلادي کلونو شاوخوا کې لیکل شوی دی. د ډېرو خلکو سره دا سوال پیدا کېږي چې عیسی مسیح څوک دی او هغه ته ولې د خدای زوی وایي؟ یوحنا دې سوالونو ته په ځواب ورکولو سره د عیسی رښتینی شخصیت خلکو ته ورپېژني، ځکه چې یوحنا د نورو شاګردانو په پرتله خپل زیات وخت د عیسی مسیح سره تېر کړی دی.

یوحنا عیسی د ازلي کلام په توګه معرفي کوي او د هغو معجزو په بیانولو سره چې عیسی د نبي په توګه وښودلې، څرګندوي چې هغه وعده شوی خلاصوونکی او د خدای زوی دی. برسېره پر دې چې یوحنا په خلکو کې د عیسی د محبوبیت په اړه خبرې کوي، د هغو مخالفتونو په اړه هم لیکي چې د عیسی په وړاندې رامنځته کېږي.

یوحنا د شاګردانو سره د عیسی د نژدې والي او اخلاص یادونه هم کوي. مخکې له دې چې عیسی ونیول شي او په صلیب باندې ځوړند کړای شي، هغه خپل شاګردان د داسې حالت سره د مخامخ کېدلو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره تیاروي. یوحنا په خپله د عیسی د نیولو، محاکمې، په صلیب باندې د ځوړندېدلو شاهد ؤ.

د یوحنا انجیل د ایمان د انجیل په نوم هم مشهور دی، یعنې په عیسی باندې ایمان چې د تلپاتې ژوندون ورکولو سبب ګرځي. دا تلپاتې ژوندون هغو خلکو ته ورکول کېږي چې عیسی جنت ته د لارې، حقیقت او ژوندون په توګه قبلوي. یوحنا هغه روحاني اصطلاح ګانې روښانه کوي چې عیسی مسیح به د ژوند په ورځنیو خبرو کې ترې کار اخیسته لکه اوبه، ډوډۍ، رڼا، شپون او تاک ترڅو خلک په روحاني توګه د هغو په معنی پوه شي او د هغه رښتینی شخصیت خلکو ته ورپېژني.

د یوحنا انجیل د جوړښت او مضمون له مخې د نورو درې انجیلونو یعنې متي، مرقوس او لوقا سره فرق لري. په دې انجیل کې د عیسی د ژوند هغو پېښو او تعلیمونو ته اشاره شوې ده چې په نورو درې انجیلونو کې نشته او په داسې ډول چې د دې کتاب په مطالعه کولو سره د عیسی د ژوند پوره خیال او تصور څرګندیږي.

د یوحنا د انجیل مهم او د پام وړ ټکی دا دی چې عیسی د هغه قدرت په وسیله چې په مرګ باندې یې درلود، خلکو ته د تلپاتې ژوندون ورکولو بلنه ورکوي. عیسی دا ثابته کړه چې هغه ژوند ورکولای شي، لکه څنګه چې یې الیعازر د مړو نه راژوندی کړ او لکه څنګه چې په خپله د مړو نه راژوندی شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موضوعګانو لست

سریزه: ۱: ۱آ – ۱۸
تعمید ورکوونکی یحیی او د عیسی لومړني شاګردان: ۱: ۱۹ – ۵۱
د عیسی کارونه او معجزې: ۲آ – ۱۲ فصلونه
په اورشلیم او شاوخوا سیمو کې د عیسی د ژوند وروستنۍ هفته: ۱۳آ – ۱۹ فصلونه
د عیسی بیا راژوندي کېدل او ښکاره کېدل: ۲۰ فصل
په جلیل کې شاګردانو ته ښکاره کېدل او د کتاب پای: ۲۱ فصل

## د ژوندون کلام

۱ (۱) په ازل کې کلام ؤ. کلام د خدای سره ؤ او کلام په خپله
خدای ؤ، (۲) په ازل کې کلام د خدای سره ؤ. (۳) خدای ټول
شیان د کلام په وسیله پیدا کړل او هېڅ شی بې له کلامه نه دی پیدا
شوی. (۴) کلام د ژوندون سرچینه وه او دې ژوندون انسانانو ته
رڼا راوستلې ده. (۵) رڼا په تیاره کې ځلیږي او تیاره هېڅکله هم په
هغې باندې نه ده غالبه شوې.

(۶) نو بیا خدای یو سړی راولېږه چې یحیی نومېده، (۷) هغه د یو
شاهد په توګه راغی چې خلکو ته د دې رڼا په هکله شاهدي
ورکړي، ترڅو ټول د دې پیغام په وسیله ایمان راوړي. (۸) هغه په
خپله رڼا نه وه، بلکې هغه راغی چې د هغې رڼا په هکله شاهدي
ورکړي.

(۹) هغه رښتیني رڼا چې په ټولو انسانانو باندې ځلیږي، نړۍ ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راروانه وه. ۱۰ کلام په نړۍ کې ؤ او که څه هم نړۍ د هغه په
وسیله پیدا شوې وه، خو نړۍ هغه ونه پېژانده. ۱۱ هغه خپل وطن
ته راغی خو خپلو خلکو هغه قبول نه کړ. ۱۲ خو کومو خلکو چې
هغه یې قبول کړ او ایمان یې ورباندې راوړ، نو هغوی ته یې دا حق
ورکړ چې د خدای اولادونه شي. ۱۳ داسې اولادونه چې هغوی نه
د عادي زېږېدنې، نه د جسماني خواهشاتو او نه د انساني ارادې له
مخې بلکې د خدای د روح په وسیله پیدا شوي وي.

۱۴ کلام جسم شو او زمونږ په منځ کې اوسېده. مونږ د هغه لویي
ولیدله، داسې لویي چې هغه د پلار د یوازېني زوی په توګه تر لاسه
کړه او هغه د فضل او رښتینولۍ څخه ډک ؤ. ۱۵ یحیی خلکو ته د
هغه په هکله شاهدي ورکړې وه. هغه په لوړ اواز وویل: «دا هغه
څوک دی چې ما د هغه په هکله ویلي وو چې زما څخه وروسته به
راځي، خو هغه زما څخه ډېر لوی دی، ځکه چې زه لا پیدا شوی نه
وم چې هغه موجود ؤ.» ۱۶ هغه د خپلې زیاتې مهربانۍ له مخې
مونږ ټولو ته برکت راکړ، مونږ ته یې د یو برکت پسې بل برکت راکړ.
۱۷ ځکه چې شریعت د موسی په وسیله ورکړل شو او مهرباني او
رښتینولي د عیسی مسیح په وسیله راغله. ۱۸ هیچا هېڅکله خدای
نه دی لیدلی، خو د خدای یوازېنی زوی چې پلار ته تر ټولو نژدې
دی، خلکو ته وښودل چې خدای څوک دی.

## د تعمید غسل ورکوونکي یحیی پیغام

(متي ۳: ۱ – ۱۲ او مرقوس ۱: ۱ – ۸ او لوقا ۳: ۱ – ۱۸)

۱۹ د یحیی شاهدي دا وه: کله چې د اورشلیم د یهودیانو مشران

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځينې کاهنان او لاويان يحيى ته ورولېږل چې پوښتنه ترې وکړي:
«ته څوک يې؟» ۲۰ هغه اقرار وکړ او منکر نه شو، بلکې ښکاره
يې وويل: «زه مسيح نه يم.» ۲۱ هغوی ترې پوښتنه وکړه: «نو بيا
ته څوک يې؟ ته الياس نبي يې؟» هغه ځواب ورکړ: «نه، زه هغه نه
يم.» هغوی پوښتنه وکړه: «ته هغه پيغمبر يې چې مونږ ورته په تمه
يو؟» هغه ځواب ورکړ: «نه.» ۲۲ هغوی وويل: «نو بيا مونږ ته
ووايه چې ته څوک يې؟ ځکه هغو کسانو چې مونږ رالېږلي يو هغوی
ته بايد ځواب ورکړو. د خپل ځان په هکله څه وايې؟» ۲۳ يحيى
وويل: «لکه څنګه چې اشعيا نبي ويلي دي:

‹زه د ناري وهونکي اواز يم چې په دښته کې ناري وهي

چې د څښتن لاره سمه کړئ.›»

۲۴ کوم استازي چې د فريسيانو له خوا لېږل شوي وو، ۲۵ د
يحيى څخه پوښتنه وکړه: «که چېرې ته نه مسيح يې، نه الياس يې، نه
هغه پيغمبر يې چې مونږ ورته په تمه يو، نو بيا ولې د تعميد غسل
ورکوې؟» ۲۶ يحيى ځواب ورکړ: «زه په اوبو باندې د تعميد غسل
ورکوم، خو ستاسو په منځ کې يو څوک ولاړ دی چې تاسو هغه نه
پېژنئ. ۲۷ هغه زما څخه وروسته راځي، خو زه د دې لايق هم نه
يم چې د هغه د څپليو تسمې خلاصې کړم.» ۲۸ دا ټولې پېښې په
بيت عنيا کې چې د اردن د سيند په بله غاړه باندې پروت دی يعنې
په هغه ځای کې چې يحيى خلکو ته د تعميد غسل ورکاوه، وشوې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خدای له خوا د قربانۍ ورى

۲۹ بله ورځ یحیی ولیدل چې عیسی د هغه خواته راروان دی، نو
هغه وویل: «وګورئ، دا د خدای له خوا ورى دی چې د نړۍ د
خلکو ګناهونه لیرې کوي! ۳۰ دا هماغه دی چې د هغه په هکله ما
ویلي وو چې زما څخه وروسته به یو څوک راځي چې زما څخه ډېر
لوی دی، ځکه چې زه لا نه وم پیدا شوی چې هغه موجود ؤ. ۳۱
ما هغه نه پېژانده چې هغه به څوک وي، خو زه راغلم چې د اوبو په
وسیله د تعمید غسل ورکړم د دې دپاره چې هغه د اسراییلو خلکو ته
وروپېژنم.»

۳۲ بیا یحیی دا شاهدي ورکړه: «ما روح القدس ولیده چې د
کوترې په شکل د اسمان نه رانازل شو او په هغه باندې کښېناست.
۳۳ ما هغه نه پېژانده خو هغه چا چې زه یې راولیږلم چې د اوبو په
وسیله د تعمید غسل ورکړم ماته ویلي وو: ‹هرکله چې ته ووینې چې
په کوم چا باندې روح القدس نازل شي او په هغه باندې کښېني، نو
پوه شه چې دا هماغه سړی دی چې د روح القدس په وسیله به د
تعمید غسل ورکوي.› ۳۴ ما ولیدل چې داسې وشول او شاهدي
ورکوم چې هغه د خدای زوی دی.»

## د عیسی مسیح لومړني شاګردان

۳۵ په بله ورځ یحیی بیا د خپلو دوه شاګردانو سره ولاړ ؤ، ۳۶
کله چې هغه ولیدل چې عیسی له هغه ځای څخه تېرېږي نو ویې
ویل: «وګورئ، دا دی د خدای له خوا د قربانۍ ورى!»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۷ د یحیی دوو شاګردانو دا خبره واورېدله او عیسی پسې روان
شول. ۳۸ عیسی شاته وکتل او ویې لیدل چې هغوی هغه پسې
روان دي نو پوښتنه یې ترې وکړه: «تاسو څه شي پسې ګرځئ؟»
هغوی پوښتنه وکړه: «ربي ته چېرته اوسېږې؟» د ربي معنی استاذ.

۳۹ عیسی وویل: «راشئ او وګورئ.» دا شاوخوا د ماسپښین خلور
بجې وې نو هغوی د هغه سره لاړل او ویې لیدل چې هغه چېرته
اوسېده او پاتې ورځ یې د هغه سره تېره کړه.

۴۰ د هغو دوه تنو څخه چې د یحیی د خبرو له اورېدلو وروسته
عیسی پسې روان شو، یو یې د شمعون پطروس ورور اندریاس ؤ.
۴۱ اولنی کار چې هغه وکړ هغه دا ؤ چې هغه خپل ورور شمعون
پیدا کړ او هغه ته یې وویل: «مونږ مسیح موندلی دی.» یعني وعده
شوی پاچا. ۴۲ نو اندریاس شمعون عیسی ته راوست. عیسی هغه
ته وکتل او ویې ویل: «ته د یوحنا زوی شمعون یې، خو له دې
وروسته به ته د کیفا په نوم یادېږې.» (د کیفا معنی پطروس دی او
پطروس د تیږې معنی ورکوي.)

## عیسی فیلیپوس او نتنایل ته بلنه ورکوي

۴۳ بله ورځ عیسی دا پرېکړه وکړه چې جلیل ته لاړ شي. په لاره
کې هغه فیلیپوس پیدا کړ او ورته یې وویل: «ما پسې راځه.» ۴۴
فیلیپوس د اندریاس او پطروس په شان د بیت صیدا ؤ. ۴۵
فیلیپوس نتنایل راپیدا کړ او ورته ویې ویل: «مونږ هغه کس پیدا کړ
چې موسی د شریعت په کتاب کې لیکلي او همدارنګه پیغمبرانو هم د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه په هکله لیکنې کړي دي. هغه عیسی دی چې د ناصرې د ښار
څخه دی او د یوسف زوی دی.» ۴۶ نتنایيل د هغه نه پوښتنه
وکړه: «ایا په ناصرې کې هم ښه شی پیدا کېدای شي؟» فیلیپوس
ځواب ورکړ: «راشه او وګوره.»

۴۷ کله چې عیسی ولیدل چې نتنایيل د هغه خواته راروان دی نو د
هغه په هکله یې وویل: «دا سړی اصلي اسراییلی دی او په هغه کې
هېڅ کومه ټګي نشته.» ۴۸ نتنایيل پوښتنه وکړه: «ته ما څنګه
پېژنې؟» عیسی ځواب ورکړ: «مخکې له دې چې فیلیپوس تاته غږ
وکړي ماته ولیدلې چې د انځر د ونې لاندې وې.» ۴۹ نتنایيل
وویل: «استاذه! ته د خدای زوی یې! ته د اسراییلو پاچا یې.» ۵۰
عیسی وویل: «ایا تا په دې خاطر ایمان راوړ چې ما درته وویل چې
ته مې د انځر د ونې لاندې ولیدلې؟ ته به د دې نه هم لوی لوی
کارونه ووینې.» ۵۱ بیا یې هغه ته وویل: «په یقین سره زه تاسو ته
دا وایم چې تاسو به ووینئ چې اسمان به پرانیستل شي او د خدای
فرښتې به د انسان د زوی په مرسته اسمان ته خېژي او راښکته
کیږي.»

## د جلیل په قانا کې واده

۲ ۱ دوه ورځې وروسته د جلیل د قانا په ښار کې واده ؤ او د
عیسی مور هم هلته وه. ۲ عیسی او د هغه شاګردانو ته هم واده
ته بلنه ورکړل شوې وه. ۳ کله چې د واده د مېلمنو سره شراب
خلاص شول نو د عیسی مور عیسی ته وویل: «د هغوی سره نور

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شراب نشته.» ۴ عیسی ځواب ورکړ: «موريې! په دې کې زما او
ستا څه کار دی؟ زما وخت لا نه دی رارسېدلی.» ۵ د عیسی مور
د هغه ځای نوکرانو ته وویل: «هرڅه چې عیسی درته ووايي هغه
وکړئ.»

۶ په هغه ځای کې شپږ لوی د تيږې منګي ايښي وو چې يهوديانو
به ورڅخه په مذهبي توګه د پاکېدلو د مراسمو د سرته رسولو دپاره
کار اخيسته او هر يو يې د اتياوو څخه تر سلو ليترو پورې ځای
درلود. ۷ عیسی نوکرانو ته وویل: «دا منګي د اوبو نه ډک کړئ.»
او هغوی هغه منګي تر خولې پورې ډک کړل. ۸ بیا یې هغوی ته
وویل: «اوس د هغو څخه لږې راوباسئ او د مېلمستيا د مراسمو مشر
ته يې يوسئ.» نو هغوی همداسې وکړل ۹ او د مېلمستيا د
مراسمو مشر هغه اوبه چې په شرابو باندې بدلې شوې وې، وڅښلې.
هغه نه پوهېده چې دا شراب له کومه شول، خو کومو نوکرانو چې
دغه اوبه يې راويستلې وې ورڅخه خبر وو، نو د مراسمو مشر زوم
راوغوښت ۱۰ او ورته ويې ويل: «هرڅوک ښه شراب په اوله کې
ورکوي او کله چې مېلمانه نشه شول نو بيا ورته عادي شراب راوړي.
خو تا ښه شراب لا تر اوسه پورې ساتلي دي.»

۱۱ دا د جليل په قانا کې د عیسی د قدرت لومړنۍ نښه وه چې د
هغې په وسیله يې خپله لويي ښکاره کړه او شاګردانو يې ورباندې
ایمان راوړ. ۱۲ له هغې وروسته عیسی د خپلې مور، ورونو او
خپلو شاګردانو سره کپرناحوم ته لاړ او د يو څو ورځو دپاره هلته
پاتې شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# عیسی د خدای کور د پلورونکو نه پاکوي

(متي ۲۱: ۱۲ – ۱۳ او مرقوس ۱۱: ۱۵ – ۱۷ او لوقا ۱۹: ۴۵ – ۴۶)

۱۳ د یهودیانو د فسحې اختر رانژدې ؤ، نو عیسی اورشلیم ته لاړ.
۱۴ هغه ولیدل چې خلکو د خدای د کور په حوېلۍ کې غویان،
پسونه او کوترې خرڅولې او همدارنګه هغه ولیدل چې صرافان د
خپلو مېزونو سره ناست وو. ۱۵ هغه یوه رسۍ راواخیستله او دوره
یې ترې جوړه کړه او هغوی ټول یې د غویانو او پسونو سره د خدای
د کور نه وشړل. د صرافانو مېزونه یې په بل مخ راچپه کړل او د
هغوی پیسې یې هرې خواته وشیندلې، ۱۶ او د کوترو خرڅوونکو
ته یې وویل: «دا شیان د دې ځای نه وباسئ! زما د پلار د کور نه
بازار مه جوړوئ!» ۱۷ د هغه شاګردانو ته ور په یاد شول چې د
خدای په کلام کې لیکلي شوي دي: «په ما کې چې ستا د کور په
خاطر کوم غیرت دی هغه به ما وسوځوي.»

۱۸ نو د یهودیانو مشرانو پوښتنه وکړه: «مونږ ته داسې کومه نښه
ښودلی شې چې دا ثابته کړي چې ته حق لرې دا کارونه وکړې؟»
۱۹ عیسی ځواب ورکړ: «که چېرې دا د خدای کور وران کړئ نو
زه به هغه په درې ورځو کې بېرته ودان کړم.» ۲۰ نو هغوی وویل:
«دا د خدای کور په شپږ‌ځلوېښت کالو کې جوړ شوی دی او ته یې
په درې ورځو کې جوړوې؟» ۲۱ خو د خدای د کوم کور په هکله
چې عیسی خبرې کولې هغه د ده خپل بدن ؤ. ۲۲ نو کله چې هغه
بیا راژوندی شو، د هغه شاګردانو ته ور په یاد شول چې دا یې ویلي
وو نو هغوی د خدای په کلام او د عیسی په خبرو باندې ایمان راوړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی د ټولو خلکو د زړونو نه خبر دی

۲۳ کله چې عیسی د فسحې د اختر په وخت کې په اورشلیم کې ؤ
نو ډېرو خلکو چې د هغه معجزې ولیدلې په هغه باندې یې ایمان
راوړ. ۲۴ خو عیسی په هغوی باندې اعتبار ونه کړ، ځکه چې
هغوی ټول یې ښه پېژندل. ۲۵ هغه دې ته اړتیا نه لرله چې څوک
ورته د انسان په هکله کومه شاهدي ورکړي، ځکه چې هغه په دې
ښه پوهېده چې د انسان په زړه کې څه دي.

## عیسی او نیکودیموس

۳ ۱ په فریسیانو کې یو سړی ؤ چې نیکودیموس نومېده او د
یهودیانو د مشرانو څخه ؤ. ۲ یوه شپه هغه عیسی ته راغی او
ورته ویې ویل: «استاذه، مونږ پوهېږو چې ته یو ښوونکی یې چې د
خدای له خوا رالېږل شوی یې. کومې نښې چې ته یې ښایې هغه
هېڅوک نه شي ښودلی ترڅو پورې چې خدای ورسره مل نه وي.»
۳ عیسی په ځواب کې وویل: «په یقین سره زه تاته دا وایم چې
ترڅو پورې یو سړی بیا نوی پیدا نه شي هغه د خدای پاچاهي لیدلی
نه شي.» ۴ نیکودیموس پوښتنه وکړه: «دا څنګه کېدای شي چې
یو زوړ سړی بیا نوی پیدا شي؟ بې له شکه چې هغه نه شي کولای
چې بیرته د مور ګېډې ته ورننوځي او د دوهم ځل دپاره بیا پیدا
شي!» ۵ عیسی ځواب ورکړ: «په یقین سره زه تاته دا وایم چې
یو سړی به تر هغې پورې د خدای پاچاهۍ ته وردننه نه شي ترڅو
چې هغه په طبیعی ډول او روح القدس سره پیدا نه شي. ۶ د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

انسان نه چې پيدا کېږي هغه جسم دی او د روح القدس نه چې پيدا
کېږي هغه روح دی. ۷ کله چې زه تاسو ته وايم چې تاسو ټول
بايد د دوهم ځل دپاره وزېږئ نو په دې باندې مه حيرانېږئ. ۸
باد چې هرې خواته غواړي هلته لګېږي. تاسو يې اواز اورئ، خو په
دې نه پوهېږئ چې هغه د کوم ځای نه راځي او چېرته ځي. نو
ثوک چې د روح القدس نه پيدا کېږي د هغه حالت هم همداسې
وي.»

۹ نيکوديموس پوښتنه وکړه: «دا څنګه کېدای شي؟» ۱۰
عيسی په ځواب کې وويل: «ته په اسراييلو کې يو لوی عالم يې او په
دې شيانو باندې نه پوهېږې؟ ۱۱ په يقين سره زه تاته دا وايم چې
مونږ د هغو شيانو په هکله خبرې کوو چې ورباندې پوهېږو او څه
چې مو ليدلي دي د هغو په هکله شاهدي ورکوو، خو بياهم تاسو
زمونږ په خبرو باندې باور نه کوئ. ۱۲ کله چې زه ستاسو سره د
دنياوي شيانو په هکله خبرې کوم او تاسو ورباندې باور نه کوئ، نو
که د اسماني شيانو په هکله خبرې وکړم تاسو به يې څنګه ومنئ؟
۱۳ هېڅوک هم کله اسمان ته نه دی ختلی، پرته د انسان د زوی نه
چې د اسمان نه راښکته شوی دی. ۱۴ لکه څنګه چې موسی په
دښته کې برنجي مار په يوې پايې باندې وخېژاوه نو همداسې به د
انسان زوی هم بايد پورته وځړول شي، ۱۵ د دې دپاره چې
هرڅوک چې په هغه باندې ايمان راوړي نو هغه به د تلپاتې ژوندون
خاوند شي. ۱۶ خدای د نړۍ سره داسې مينه وکړه چې خپل
يوازېنی زوی يې ورکړ ترڅو هرڅوک چې په هغه باندې ايمان
راوړي نو هلاک به نه شي، بلکې تلپاتې ژوندون به ولري. ۱۷

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای خپل زوی دنیا ته د دې دپاره نه دی رالیږلی چې خلک
محکوم کړي، بلکې د دې دپاره یې رالیږلی چې هغوی وژغوري.

۱۸ که چیرې څوک د خدای په زوی باندې ایمان راوړي، نو هغه
به د خدای له خوا محکوم نه شي. خو که چیرې څوکورباندې
ایمان رانه وړي، نو هغه خو له مخکې نه مجرم ګڼل شوی دی، ځکه
چې هغه د خدای په یوازېني زوی باندې ایمان نه دی راوړی. ۱۹
نو د خدای قضاوت دا دی: دنیا ته رڼا راغلې وه، خو خلکو د رڼا نه
تیاره غوره ګڼله، ځکه چې د هغوی عملونه خراب وو. ۲۰ څوک
چې بد کارونه کوي هغوی د رڼا نه کرکه کوي او ځان ترې لېرې
ساتي، ځکه چې وېرېږي چې بد کارونه یې ښکاره نه شي. ۲۱ خو
څوک چې سم کارونه کوي هغه د رڼا خواته ورځي ترڅو په ښکاره
ولیدل شي چې هغوی هغه کارونه کوي چې خدای یې غواړي.»

## عیسی او یحیی

۲۲ له هغې وروسته عیسی د خپلو شاګردانو سره د یهودیې سیمې
ته لاړ او د یو څه وخت دپاره د هغوی سره هلته پاتې شو او خلکو
ته یې د تعمید غسل ورکاوه. ۲۳ یحیی هم سالیم ته نژدې په عینون
کې خلکو ته د تعمید غسل ورکاوه، ځکه چې په هغه ځای کې اوبه
ډېرې وې. خلک هغه ته ورتلل او هغه ورته د تعمید غسل ورکاوه.
۲۴ (ځکه چې دا هغه وخت ؤ چې یحیی لا په زندان کې نه ؤ
اچول شوی.)

۲۵ په دې وخت کې د یحیی د ځینو شاګردانو او یو سړي ترمنځ د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاکوالي د مراسمو د موضوع په سر بحث راپورته شو. ۲۶ نو بیا
هغوی یحیی ته ورغلل او ورته ویې ویل: «استاذه، تا سره چې د
اردن د سیند په بله غاړه کوم سړی ؤ چې د هغه په هکله دې
شاهدي ورکړې وه، هغه دلته دی او د تعمید غسل ورکوي او ټول
خلک ورته ورځي.» ۲۷ یحیی په ځواب کې وویل: «انسان نه شي
کولای چې کوم څه لاسته راوړي ترڅو چې خدای یې ورته ورنه
کړي. ۲۸ تاسو خپله د دې شاهدان یئ چې ما وویل: ‹زه مسیح نه
یم، خو د هغه نه مخکې رالیږل شوی یم.› ۲۹ ناوې د زوم وي. د
زوم ملګری چې په څنګ کې یې ولاړ وي او د هغه خبرې اوري، نو
د زوم د اواز په اورېدلو سره خوشحالیږي. په همدې ډول زما
خوشحالي هم پوره کیږي. ۳۰ هغه باید ډېر لوی شي او زه وړوکی
شم.»

## هغه څوک چې د اسمان نه راځي

۳۱ څوک چې له پاس نه راځي هغه د ټولو نه لوی دی او څوک
چې د دې نړۍ دی هغه په دې نړۍ پورې اړه لري او د دنیاوي شیانو
په هکله خبرې کوي. څوک چې د اسمان نه راځي هغه د ټولو نه
لوی دی. ۳۲ هغه چې څه لیدلي او اورېدلي د هغو په هکله
شاهدي ورکوي، خو هېڅوک د هغه په خبرو باندې باور نه کوي.
۳۳ هرڅوک چې د هغه شهادت قبول کړي، نو په دې اقرار کوي
چې خدای رښتینی دی. ۳۴ ځکه څوک چې د خدای له خوا
رالیږل شوی وي هغه د هغه پیغام په هکله خبرې کوي چې د خدای
له خوا راځي، ځکه چې خدای ورته د اندازې نه زیات خپل روح

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکوي. ٣٥ پلار د خپل زوی سره مینه کوي او د ټولو شیانو واک
یې ورته ورکړی دی. ٣٦ څوک چې په زوی باندې ایمان راوړي
نو هغه تلپاتې ژوندون لري، خو څوک چې د زوی نه اطاعت ونه
کړي نو هغه به تلپاتې ژوندون ونهویني، بلکې د خدای غضب به تل
ورباندې وي.

## عیسی او سامرۍ ښځه

۴ ١ کله چې عیسی خبر شو چې فریسیانو اورېدلي دي چې
هغه د یحیی نه زیات پیروان پیدا کړي دي او هغوی ته د تعمید غسل
ورکوي، ٢ (خوعیسی په خپله نه بلکې شاګردانو یې د تعمید
غسل ورکاوه.) ٣ نو یهودیه یې پرېښودله او بېرته جلیل ته لاړ.
٤ هغه مجبور ؤ چې د سامریې له لارې لاړ شي. ٥ هغه د
سامریې یو ښار ته چې د سوخار په نوم يادېده راغی. دا ځای هغې
ځمکې ته نژدې ؤ چې یعقوب خپل زوی یوسف ته ورکړې ؤ. ٦
په هغه ځای کې یوه څاه وه چې د یعقوب وه او عیسی چې د سفر نه
ستړی شوی ؤ، د څاه په غاړه کښېناست. دا د غرمې وخت ؤ.

٧ په دې وخت کې یوه سامرۍ ښځه راغله چې د څاه نه اوبه
یوسي. عیسی هغې ته وویل: «خورې، لږې اوبه راکړه.» ٨
(عیسی یوازې ؤ ځکه د هغه شاګردان د خوړو د اخیستلو دپاره ښار
ته تللي وو.) ٩ سامرۍ ښځې ورته وویل: «ته یهودي یې او زه
یوه سامرۍ ښځه یم. څنګه کېدای شي چې ته زما نه اوبه وغواړې؟»
ځکه چې یهودیانو د سامریانو سره ناسته ولاړه نه لرله. ١٠ عیسی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې ښځې ته په ځواب کې وویل: «که چېرې ته په دې خبره وای
چې د خدای نعمت څه شی دی او دا څوک دی چې ستا نه اوبه
غواړي، نو تا به د هغه نه غوښتنه کړې وای او هغه به درته هغه اوبه
درکړې وای چې ژوندون ورکوي.» ۱۱ ښځې وویل: «ښاغلیه، تا
سره خو کوم شی نشته چې اوبه وروباندې راوباسې او دا څاه ژوره ده،
نو ته به د ژوندون اوبه له کومه کړې؟ ۱۲ ایا ته زمونږ د نیکه
یعقوب نه چې مونږ ته یې دا څاه راکړه هم ډېر لوی یې، خپله هغه، د
هغه زامنو، د هغه رمو او پادو به هم د دې څاه اوبه څښلې؟» ۱۳
عیسی وویل: «هرڅوک چې دا اوبه وڅښي نو بیا به هم تږی شي،
۱۴ خو کومې اوبه چې زه یې ورکوم او هرڅوک یې چې وڅښي
نو هېڅکله به تږی نه شي. زه چې هغه ته کومې اوبه ورکوم هغه اوبه
به په هغه کس کې د چینې په شان بهېږي او تلپاتې ژوندون به ورته
ورکوي.» ۱۵ ښځې وویل: «ښاغلیه، هغه اوبه ماته راکړه چې بیا
هېڅکله تږې نه شم او نه به بیا د اوبو وړلو دپاره دلته راځم.»

۱۶ عیسی ورته وویل: «لاړه شه، مېړه ته دې غږ وکړه او بېرته
ورسره راشه.» ۱۷ هغې په ځواب کې وویل: «زه مېړه نه لرم.»
عیسی هغې ته وویل: «ته رښتیا وایې چې مېړه نه لرې، ۱۸ ځکه
چې تا پنځه مېړونه کړي وو او اوس چې ته د کوم سړي سره
اوسېږې هغه ستا مېړه نه دی. تا چې څه وویل هغه رښتیا دي.» ۱۹
ښځې وویل: «ښاغلیه، زه پوهېږم چې ته پیغمبر یې. ۲۰ زمونږ
نیکونو په دې غره کې عبادت کاوه، خو تاسو یهودیان وایئ چې
اورشلیم یوازینی ځای دی چې باید د خدای عبادت په کې وشي.»
۲۱ عیسی هغې ته وویل: «ای ښځې، په ما باندې باور وکړه، هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخت به راشي چې تاسو به نه په دې غره کې د اسماني پلار عبادت
وکړئ او نه هم په اورشليم کې. ۲۲ تاسو سامريان هغه چاته
عبادت کوئ چې نه يې پېژنئ، خو مونږ يهوديان د هغه چا عبادت
کوو چې مونږ يې پېژنو، ځکه چې خلاصون د يهوديانو په وسيله
رامنځته کيږي. ۲۳ خو هغه وخت به راشي بلکې اوس راغلی دی
چې رښتيني عبادت کوونکي به د خدای د روح سره په رښتيني توګه
د اسماني پلار عبادت کوي، ځکه چې اسماني پلار دا ډول عبادت
کوونکي غواړي. ۲۴ خدای روح دی او هرڅوک چې د هغه
عبادت کوي نو هغه دې په روح او حقيقت سره د هغه عبادت
وکړي.» ۲۵ ښځې ورته ووېل: «زه پوهېږم چې د خدای مسيح
راتلونکی دی او کله چې هغه راشي نو هرڅه به مونږ ته ښکاره
کړي.» ۲۶ عيسی ورته ووېل: «زه چې ستا سره خبرې کوم نو
هماغه زه يم.»

۲۷ په دې وخت کې د عيسی شاګردان بېرته راغلل او کله چې
هغوی وليدل چې هغه د يوې ښځې سره خبرې کوي، نو حيران شول
خو په هغوی کې يو هم پوښتنه ونه کړه: «ته د هغې نه څه غواړې؟»
يا «ته ولې د هغې سره خبرې کوې؟» ۲۸ نو ښځې خپل منګی
پرېښود، بېرته ښار ته لاړه او خلکو ته يې ووېل: ۲۹ «راشئ او يو
داسې سړی ووينئ چې ما چې تر اوسه پورې هرڅه کړي دي هغه
يې راته ووېل. کېدای شي چې هغه مسيح وي؟» ۳۰ نو هغوی د
ښار نه ووتل او عيسی ته ورغلل.

۳۱ په دې وخت کې شاګردانو د عيسی نه په کلکه وغوښتل:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«استاذه، یو څه وخوره.» ۳۲ خو عیسی هغوی ته وویل: «زما سره
د خوړلو دپاره داسې خواړه شته چې تاسو ترې هېڅ خبر نه یئ.»
۳۳ نو شاګردانو په خپلو کې یو بل ته وویل: «ایا کوم چا هغه ته
خواړه راوړي دي؟» ۳۴ عیسی هغوی ته وویل: «کله چې زه د
هغه چا رضا پوره کړم او د هغه کارونه سرته ورسوم چې زه یې
رالېږلی یم، نو دا به زما دپاره داسې وي لکه چې ډوډۍ مې خوړلې
وي. ۳۵ ایا خلک دا نه وایي: ‹تر اوسه لا د لو وخت ته څلور
میاشتې پاتې دي.› سترګې خلاصې کړئ او وګورئ چې فصل وختي
پوخ شوی دی او لو کولو ته تیار دی! ۳۶ لوګري خپله مزدوري
اخلي او د تلپاتې ژوندون دپاره حاصل راټولوي ترڅو کرونکي او
لوګري په ګډه سره خوشحالي وکړي. ۳۷ نو دا ربښتیا دي چې
خلک وایي: ‹یو یې کري او بل یې رېبي.› ۳۸ ما تاسو ولېږلئ چې
د هغو پټیو فصلونه وربېئ چې تاسو په کې زحمت نه دی ویستلی.
نورو زحمت ویستلی او تاسو د هغوی د کار نه ګټه اخلئ.»

۳۹ په هغه ښار کې ډېرو سامریانو د هغې ښځې د شاهدۍ له امله
چې ویلي یې وو: «ما چې کله هم څه کړي وو هغه ټول یې راته
وویل، نو هغوی په عیسی باندې ایمان راوړ.» ۴۰ کله چې
سامریان هغه ته راغلل او زارۍ یې ورته وکړلې چې د هغوی سره
پاتې شي او عیسی دوه ورځې هلته پاتې شو. ۴۱ نورو ډېرو خلکو
هم د هغې د خبرو له امله ایمان راوړ، ۴۲ او هغوی هغې ښځې ته
وویل: «مونږ ستا د خبرې په سبب ایمان نه دی راوړی، بلکې مونږ
په دې خاطر ایمان راوړو چې په خپله مو د هغه خبرې واورېدلې او
په دې پوه شو چې هغه په ربښتیا سره د نړۍ خلاصوونکی دی.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی د یو مامور زوی ته شفا ورکوي

۴۳ دوه ورځې وروسته عیسی له هغه ځای نه روان شو او جلیل ته
لاړ. ۴۴ که څه هم عیسی په خپله شهادت ورکړی وو چې یو
پیغمبر ته خلک په خپل وطن کې درناوی نه کوي، ۴۵ نو کله چې
هغه جلیل ته ورسېده، خلکو ورته هرکلی ووایه. هغوی هم د فسحې
په اختر کې اورشلیم ته تللي وو او هرڅه چې هغه په اختر کې په
اورشلیم کې کړي وو، هغوی لیدلي وو.

۴۶ نو عیسی یوځل بیا په جلیل کې قانا نومي ځای ته چې هغه په
کې اوبه په شرابو باندې بدلې کړې وې، لاړ. هلته د دولت یو مامور ؤ
چې زوی یې په کپرناحوم کې ناروغه پروت ؤ. ۴۷ کله چې هغه
سړی خبر شو چې عیسی د یهودیې نه جلیل ته راغلی دی، نو ورته
ورغی او زاري یې ورته وکړه چې کپرناحوم ته لاړ شي او زوی ته
یې چې د مرګ په حال کې دی شفا ورکړي. ۴۸ عیسی هغه ته
وویل: «ترڅو پورې چې تاسو نښې او حیرانوونکي کارونه ونه وینئ
نو هېڅکله به ایمان رانه وړئ.» ۴۹ هغه مامور ورته وویل:
«ښاغلیه، مخکې له دې چې زما زوی مړ شي راسره لاړ شه.» ۵۰
عیسی وویل: «بېرته کور ته لاړ شه، زوی به دې ژوندی پاتې شي.»
هغه سړي د عیسی په خبرو باندې باور وکړ او کورته لاړ. ۵۱ هغه
لا په لاره روان ؤ چې نوکران یې ورته په مخه ورغلل او ورته ویې
ویل: «زوی دې ژوندی او روغ دی!» ۵۲ هغه ترې پوښتنه وکړه
چې زوی مې څه وخت روغ شو. هغوی ځواب ورکړ: «پرون
ماسپښین یوه بجه هغه تبې پرېښود.» ۵۳ پلار یې پوه شو چې دا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هماغه وخت ؤ چې عیسی ورته ویلي وو: «زوی به دې ژوندی پاتې
شي.» نو هغه او د هغه ټولې کورنۍ ایمان راوړ.

۵۴ دا د عیسی د یهودیې نه جلیل ته د راتللو نه وروسته د قدرت
دوهمه نښه وه.

## عیسی یو ګوډ سړي ته شفا ورکوي

۵ ۱ له هغې نه وروسته عیسی د یهودیانو د اختر په خاطر
اورشلیم ته لاړ. ۲ په اورشلیم کې هغه ځای ته نژدې چې د
پسونو د دروازې په نوم یادېده یو ډنډ دی چې په آرامي ژبه کې
ورته بیت حسدا وایي او پنځه دالانونه لري. ۳ په دې دالانونو کې
زیات شمېر ناروغه خلک چې ړانده، ګوډان او شلان وو، پراته وو.
[هغوی دې ته انتظار کاوه ۴ چې په ډنډ کې اوبه وبهیږي. ځکه
کله کله به د خدای فرښته دې ډنډ ته راتله او اوبه به یې بهولې او
هغه څوک چې به د ټولو نه مخکې ډنډ ته ښکته کېده نو د هر مرض
نه به روغېده.] ۵ هلته یو سړی ؤ چې د اته دېرشو کالو راهیسې
شل ؤ. ۶ کله چې عیسی هغه سړی ولید چې د زیاتې مودې
راهیسې هلته پروت ؤ او په دې پوه شو چې هغه ناروغه دی، نو
پوښتنه یې ترې وکړه: «ایا ته غواړې چې روغ شې؟» ۷ هغه
ناروغه سړي ځواب ورکړ: «ښاغلیه، کله چې اوبه وبهیږي نو زما
سره څوک نشته چې ډنډ ته مې ورښکته کړي. کله چې زه
ورروخوځېږم نو بل کس زما نه مخکې ورننوتی وي.» ۸ عیسی
ورته وویل: «پاڅېږه، خپله بستره دې واخله او وګرځه.» ۹ هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سړی سمدلاسه جوړ شو، خپله بستره یې واخیسته او روان شو.

دا کار د سبت په ورځ وشو. ۱۰ نو د یهودیانو مشرانو هغه روغ
شوي سړي ته وویل: «دا د سبت ورځ ده، د سبت په ورځ تاته روا نه
ده چې خپله بستره یوسې.» ۱۱ خو هغه ځواب ورکړ: «کوم سړي
چې زه روغ کړم ماته یې وویل چې خپله بستره دې واخله او
وګرځه.» ۱۲ هغوی د هغه نه پوښتنه وکړه: «هغه سړی څوک دی
چې تاته یې وویل چې بستره دې واخله او وګرځه؟» ۱۳ خو هغه
سړی چې روغ شوی ؤ نه پوهېده چې عیسی څوک دی، ځکه چې
په هغه ځای کې ډېره ګڼه ګوڼه وه او عیسی ځان ایستلی ؤ. ۱۴
وروسته بیا عیسی هغه سړی د خدای په کور کې پیدا کړ او ورته ویې
ویل: «ګوره، اوس چې ښه شوی یې نو نوره ګناه مه کوه، که نه نو د
دې نه به هم د زیاتو کړاوونو سره مخ شې.» ۱۵ هغه سړی لاړ او
د یهودیانو مشرانو ته یې خبر ورکړ: «چا چې زه روغ کړی وم هغه
عیسی ؤ.» ۱۶ په دې خاطر چې عیسی د سبت په ورځ داسې
کارونه کول، نو د یهودیانو مشرانو د هغه په ځورولو شروع وکړه.
۱۷ خو عیسی هغوی ته وویل: «زما پلار تل داسې کارونه کړي
دي، نو زه هم همداسې کوم.» ۱۸ د عیسی په دې خبره د یهودیانو
مشرانو هڅه وکړه چې هغه ووژني، ځکه چې یوازې دا نه چې هغه د
سبت قانون مات کړی دی بلکې په دې هم چې هغه خدای ته خپل
پلار ووایه او په دې ډول یې خپل ځان د خدای سره برابر وګڼلو.

## د زوی واک او اختیار

۱۹ عیسی هغوی ته په ځواب کې وویل: «په یقین سره زه تاسو ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا وایم چې زوی نه شي کولای چې له خپله ځانه کوم کار وکړي،
بلکې یوازې هغه کار کوي چې هغه يې ويني چې پلار يې کوي. څه
چې پلار کوي هغه زوی هم کوي. ۲۰ ځکه چې زوی په پلار
باندې ګران وي او هغه چې خپله کوم کارونه کوي هغه ټول زوی ته
ورښايي. برسېره پر دې نور لوی لوی کارونه هم ورته وروښايي او
تاسو ټول به ورته حيران پاتې شئ. ۲۱ ځکه لکه څنګه چې پلار
مړي راژوندي کوي او هغوی ته ژوند ورکوي، نو په همدې ډول
زوی هم چې هرچا ته وغواړي ژوند ورکوي. ۲۲ همدارنګه پلار د
هېچا په هکله قضاوت نه کوي بلکې خپل زوی ته يې پوره حق
ورکړی دی چې قضاوت وکړي، ۲۳ ترڅو لکه څنګه چې ټول د
پلار احترام کوي، هماغسې د زوی احترام هم وکړي. څوک چې د
زوی عزت نه کوي نو د هغه د پلار چې هغه يې رالېږلی دی هم
عزت نه کوي.

۲۴ په یقین سره زه تاسو ته دا وایم څوک چې زما خبرو ته غوږ
نيسي او په هغه چا باندې ايمان راوړي چې زه يې رالېږلی يم، نو هغه
به تلپاتې ژوندون ولري. هغه به محاکمه نه شي، بلکې هغه لا پخوا د
مرګ نه تېر شوی او ژوند يې شروع کړی دی. ۲۵ په یقین سره زه
تاسو ته دا وایم چې هغه وخت به راشي، بلکې راغلی دی چې مړي
به د خدای د زوی اواز اوري او هرڅوک يې چې واوري هغه به
راژوندی شي. ۲۶ لکه څنګه چې پلار هغه ذات دی چې انسانانو
ته ژوند ورکوي، نو زوی ته يې هم دا قدرت ورکړی دی چې
انسانانو ته ژوند ورکړي. ۲۷ هغه زوی ته دا واک او اختيار ورکړی
دی چې قضاوت وکړي، ځکه چې د انسان زوی دی. ۲۸ په دې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې مه حيرانېږئ، ځکه چې هغه وخت به راشي چې ټول مړي به
په قبرونو کې د هغه اواز واوري ٢٩ او د خپلو قبرونو نه به
راووځي. کومو خلکو چې نېک کارونه کړي وي هغوی به راپورته
شي او ژوند به کوي او کومو خلکو چې بد کارونه کړي دي هغوی به
راپورته شي او سزا به ورته ورکول کيږي.

## د عيسی په هکله شاهدي ورکول

٣٠ زه په خپل اختيار هېڅ نه شم کولای. زه د خلکو په هکله هغه
قضاوت کوم چې د خپل پلار نه يې اورم. نو کله چې د هغوی په
هکله قضاوت کوم هغه قضاوت د انصاف له مخې وي، ځکه چې زه
خپله رضا نه بلکې د هغه چا رضا پوره کوم چې زه يې رالېږلی يم.
٣١ که چېرې زه د خپل ځان په هکله شاهدي ورکړم نو دا شاهدي
رښتيا نه ده. ٣٢ خو يو بل څوک شته چې زما په هکله شاهدي
ورکوي او زه پوهېږم هغه چې زما په هکله شاهدي ورکوي هغه
رښتيا دي. ٣٣ تاسو يحيی ته استازي ورلېږلي وو او هغه چې زما
په هکله کومه شاهدي ورکړه هغه رښتيا وه. ٣٤ زه په رښتيا سره د
انسانانو شاهدي ته چې دا ثابته کړي چې زه څوک يم اړتيا نه لرم،
بلکې دا خبرې د دې دپاره درته کوم چې تاسو خلاصون ومومئ.
٣٥ يحيی د يو څراغ په شان ؤ چې بلېده او رڼا يې کوله. تاسو تيار
وئ چې د يو څه وخت دپاره د هغه خبرې په خوشحالی سره
واورئ. ٣٦ خو زه د يحيی نه لوی شاهد لرم. کوم کارونه چې پلار
ماته سپارلي دي چې سرته يې ورسوم، د دې شاهدي ورکوي چې
پلار زه رالېږلی يم. ٣٧ پلار چې زه يې رالېږلی يم په خپله يې زما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هکله شاهدي ورکړې ده. تاسو هېڅکله د هغه څېره نه ده لیدلې او
نه مو د هغه اواز اورېدلی دی، ۳۸ او د هغه کلام ستاسو په زړونو
کې ځای نه دی موندلی، ځکه چې تاسو په هغه چا باندې چې هغه
رالیږلی دی ایمان نه راوړئ. ۳۹ تاسو د خدای کلام په ځیر سره
لولئ، ځکه چې فکر کوئ چې د هغه په وسیله به تلپاتې ژوندون
ومومئ. همدا لیکنې زما په هکله شاهدي ورکوي، ۴۰ خو بیاهم
تاسو نه غواړئ چې ماته راشئ ترڅو دا ژوندون ولرئ.

۴۱ زه د خلکو نه د احترام تمه نه لرم. ۴۲ خو زه تاسو پېژنم
چې ستاسو په زړونو کې د خدای سره مینه نشته. ۴۳ زه د خپل
پلار په نوم راغلی یم او تاسو ما نه قبلوئ، خو که بل څوک په خپل
نوم راشي نو تاسو به یې قبول کړئ. ۴۴ تاسو چې د یو بل نه د
احترام تمه لرئ او د هغه احترام په لټه کې نه یئ چې د یوازېني
خدای له خوا دی، نو بیا څنګه کولای شئ چې په ما باندې ایمان
ولرئ؟ ۴۵ خو دا فکر مه کوئ چې زه به تاسو د خپل پلار په
حضور کې ملامته کړم، همدا موسی چې تاسو ورته هیله لرئ، هماغه
به تاسو ملامته کړي. ۴۶ که چېرې تاسو په موسی باندې ایمان
درلودلی، نو په ما باندې به مو هم ایمان درلود، ځکه چې هغه زما په
هکله لیکلي دي. ۴۷ خو که چېرې تاسو د هغه په لیکنې باندې
ایمان نه لرئ، نو زما په خبرو باندې به څنګه باور وکړئ؟»

## عیسی پنځه زره خلکو ته ډوډۍ ورکوي

(متي ۱۴: ۱۳ – ۲۱ او مرقوس ۶: ۳۰ – ۴۴ او لوقا ۹: ۱۰ – ۱۷)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٦ ١ د دې نه وروسته عيسی د جليل د درياب بلې غاړې ته
چې د طبريې په نوم هم يادېږي، لاړ. ٢ ګڼ شمېر خلک ورپسې
وو، ځکه چې هغوی هغه معجزې ليدلې وې چې د ناروغانو د
روغولو دپاره يې ښودلې وې. ٣ عيسی يوې غونډۍ ته وختو او
هلته د خپلو شاګردانو سره کښېناست. ٤ د يهوديانو د فسحې د
اختر ورځې نږدې وې. ٥ کله چې عيسی شاوخوا ته وکتل او ګڼ
شمېر خلک يې وليدل چې د هغه خواته راروان دي، نو فيليپوس ته
يې وويل: «دومره ډوډۍ به له کوم ځای نه اخلو چې دا ټول خلک
يې وخوري؟» ٦ عيسی دا خبره د دې دپاره وکړه چې فيليپوس
امتحان کړي، ځکه چې هغه خپله پوهېده چې څه وکړي. ٧
فيليپوس ځواب ورکړ: «د سپينو زرو د دوه سوه سکو ډوډۍ به هم
بس نه شي چې هر يو ته لږه لږه هم ورسيږي.» ٨ د هغه په
شاګردانو کې يو شاګرد چې اندرياس نومېده او د شمعون پطروس
ورور ؤ، هغه ته وويل: ٩ «دلته يو هلک دی. د هغه سره د
اوربشو پنځه ډوډۍ او دوه ماهيان شته، خو په هغو باندې به د دې
دومره خلکو څه وشي؟» ١٠ عيسی هغوی ته وويل: «خلکو ته
ووايئ چې کښېني.» په هغه ځای کې ډېر واښه وو، نو ټول سړي چې
شمېر يې پنځه زره وو کښېناستل. ١١ بيا عيسی ډوډۍ
راواخيستلې، د خدای شکر يې وويست او هغه يې په ناستو خلکو
باندې ووېشلې. د ماهيانو سره يې هم همداسې وکړل او چا چې
څومره غوښتل ورته يې ورکړل. ١٢ کله چې ټول ماړه شول نو
خپلو شاګردانو ته يې وويل: «د پاتې شويو ډوډيو ټوټې راټولې کړئ
چې هيڅ شی درڅخه ضايع نه شي.» ١٣ نو شاګردانو هغه راټولې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړي او د اوربشو د پنځو ډوډیو د پاتې شویو ټوټو نه چې خلکو
خوړلي وې دولس ټوکرۍ ډکې شوې.

۱۴ کله چې خلکو د عیسی د قدرت نښه ولیدله نو ویې ویل: «دا
په ربښتیا هماغه پیغمبر دی چې باید نړۍ ته راغلی وای.» ۱۵ بیا
عیسی پوه شو چې هغوی نیت لري چې راشي او هغه په زوره بوځي
او پاچا یې کړي. نو هغه بېرته د غونډیو سیمې ته لاړ چې هلته
یوازې واوسیږي.

## عیسی د اوبو دپاسه ګرځي

(متي ۱۴: ۲۲ - ۳۳ او مرقوس ۶: ۴۵ - ۵۲)

۱۶ کله چې ماښام شو نو د عیسی شاګردان ښکته د دریاب خواته
لاړل، ۱۷ کشتۍ ته وختل او بېرته د کپرناحوم خواته روان شول.
شپه شوه او عیسی لا بېرته هغوی ته نه ؤ راغلی. ۱۸ په دې وخت
کې سخت باد لګېده او دریاب توفاني شو. ۱۹ کله چې شاګردان
نژدې پنځه یا شپږ کیلومتره مخکې لاړل، عیسی یې ولیده چې د اوبو
دپاسه روان دی او د کشتۍ خواته رانژدې کیږي، نو هغوی وویرېدل.
۲۰ خو عیسی هغوی ته وویل: «زه یم، مه ویریږئ!» ۲۱ بیا
هغوی وغوښتل چې هغه دننه کشتۍ ته راولي، او سمدلاسه کشتۍ
هغه ځای ته ورسېدله چې دوی ورته ورتلل.

## خلک عیسی لټوي

۲۲ بله ورځ هغه خلک چې د دریاب په بله غاړه ولاړ وو ولیدل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هلته یوازې یوه کشتۍ وه او عیسی په کې د خپلو شاګردانو سره
نه ؤ ختلی، بلکې هغوی یوازې تللي وو. ۲۳ بیا د طبریې د ښار
څخه نورې کشتۍ هغه ځای ته راورسېدلې چې خلکو په کې هغه
ډوډۍ خوړلې وه چې عیسی ورباندې د خدای شکر ویستلی ؤ. ۲۴
نو کله چې خلکو ولیدل چې هلته نه عیسی ؤ او نه یې شاګردان، نو
هغوی په کشتۍ کې سپاره شول او د عیسی د لټولو دپاره کپرناحوم ته
لاړل.

## عیسی د ژوندون ډوډۍ ده

۲۵ کله چې خلکو عیسی د دریاب په بله غاړه پیدا کړ نو ورته
ویې ویل: «استاذه، ته کله دلته راورسېدلې؟» ۲۶ عیسی ځواب
ورکړ: «په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې تاسو د دې دپاره ما نه
لټوئ چې زما معجزې مو لیدلي دي، بلکې د هغه ډوډۍ په خاطر
چې ومو خوړله او ماړه شوئ. ۲۷ د فاني خوړو دپاره خواري مه
کوئ بلکې د هغو خوړو دپاره خواري وکړئ چې د تلپاتې ژوندون
پورې پاتې کېږي، یعني هغه خواړه چې د انسان زوی به یې تاسو ته
درکوي. ځکه چې پلار خدای هغه ته اختیار ورکړی دی چې داسې
وکړي.» ۲۸ بیا خلکو پوښتنه وکړه: «مونږ څه وکړو، ترڅو هغه
کارونه چې خدای یې زمونږ نه غواړي سرته ورسوو؟» ۲۹ عیسی
په ځواب کې وویل: «کوم کار چې خدای یې ستاسو څخه غواړي
هغه دا دی چې په هغه چا باندې ایمان راوړئ چې هغه رالیږلی دی.»
۳۰ نو هغوی وویل: «ته مونږ ته کومه نښه ښکاره کوې چې مونږ
یې ووینو او ایمان درباندې راوړو؟ ته به څه کار وکړې؟ ۳۱ زمونږ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیکونو په دښته کې من وخوړ او لکه څنګه چې د خدای په کلام کې
لیکل شوي دي: ‹هغه د اسمان نه هغوی ته ډوډۍ ورکړه چې ویې
خوري.›» ۳۲ عیسی هغوی ته وویل: «په یقین سره زه تاسو ته دا
وایم چې دا موسی نه ؤ چې تاسو ته یې د اسمان نه ډوډۍ درکړله،
بلکې زما پلار درکوله او اوس هغه تاسو ته د اسمان څخه رښتینې
ډوډۍ درکوي. ۳۳ ځکه کومه ډوډۍ چې خدای یې درکوي هغه د
اسمان څخه رانازلیږي او نړۍ ته ژوندون ورکوي.» ۳۴ هغوی
وویل: «ښاغلیه، مونږ ته تل دغه ډوډۍ راکوه.»

۳۵ عیسی هغوی ته وویل: «زه هغه ډوډۍ یم چې ژوندون ورکوي.
څوک چې ماته راځي هغه به هیڅکله نه وږی کیږي او څوک چې په
ما باندې ایمان راوړي هغه به هیڅکله نه تږی کیږي. ۳۶ خو لکه
څنګه چې ما وویل چې سره له دې چې تاسو زه لیدلی یم خو بیاهم
په ما باندې ایمان نه راوړئ. ۳۷ کوم خلک چې زما پلار یې ماته
راکوي هغوی به ماته راځي او څوک چې ماته راځي زه به هغه
هیڅکله ونه شړم. ۳۸ ځکه چې زه د اسمان نه د دې دپاره نه یم
راښکته شوی چې خپله رضا پوره کړم، بلکې د دې دپاره چې د هغه
چا رضا پوره کړم چې زه یې رالیږلی یم. ۳۹ او چا چې زه رالیږلی
یم د هغه رضا دا ده چې ټول خلک چې هغه ماته راکړي دي یو یې
هم له لاسه ورنه کړم، بلکې د اخرت په ورځ هغوی راژوندي کړم.
۴۰ ځکه چې زما د پلار رضا دا ده چې هرڅوک چې ما د هغه د
زوی په توګه وپیژني او په ما باندې ایمان راوړي هغه به د تلپاتې
ژوندون خاوند شي، او زه به هغه د اخرت په ورځ راژوندی کړم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۱ په دې باندې خلکو په خپلو کې سره شکايت وکړ، ځکه چې
هغه وويل: «زه هغه ډوډۍ يم چې د اسمان نه نازل شوې ده.» ۴۲
نو هغوی وويل: «ايا دا سړی د يوسف زوی عيسی نه دی چې مونږ
يې مور او پلار پېژنو؟ نو بيا هغه څنګه وايي چې زه د اسمان نه
راښکته شوی يم؟» ۴۳ عيسی ځواب ورکړ: «په خپل منځ کې سره
شکايت مه کوی. ۴۴ هېڅوک نه شي کولای چې ماته راشي ترڅو
هغه پلار چې زه يې رالېږلی يم هغه ماته رانه ولي، او زه به هغه د
اخرت په ورځ راژوندی کړم. ۴۵ د پيغمبرانو په کتابونو کې ليکل
شوي دي: ‹هغوی ټول به د خدای له خوا تعليم حاصل کړي.›
هرڅوک چې د پلار خبرو ته غوږ ونيسي او د هغه څخه ځه زده
کړي، هغه ماته راځي. ۴۶ هېڅا پلار نه دی ليدلی پرته د هغه چا
نه چې د خدای له خوا راغلی دی. يوازې هغه خدای ليدلی دی.
۴۷ په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې څوک چې په ما باندې
ايمان راوړي هغه د تلپاتې ژوندون خاوند دی. ۴۸ زه هغه ډوډۍ
يم چې ژوندون ورکوي. ۴۹ سره له دې چې ستاسو نيکونو په
دښته کې من وخوړ خو هغوی مړه شول. ۵۰ خو کومه ډوډۍ چې
د اسمان څخه رانازلېږي هغه داسې ډوډۍ ده چې هرڅوک هغه
وخوري نو هېڅکله به نه مړ کېږي. ۵۱ زه د ژوندون هغه ډوډۍ يم
چې د اسمان څخه رانازل شوې ده. هرڅوک چې دا ډوډۍ وخوري
نو هغه به تل ترتله ژوندی وي. کومه ډوډۍ چې زه به يې ورکوم،
هغه زما خپل بدن دی چې زه يې د نړۍ د ژوندون په خاطر ورکوم.»

۵۲ په دې خبره يهوديانو په خپل منځ کې سره سخت بحث شروع
کړ او ويل يې: «دا سړی څنګه کولای شي چې خپل بدن مونږ ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راکړي چې ويې خورو؟» ۵۳ عيسی هغوی ته وويل: «په يقين سره
زه تاسو ته دا وايم چې تر هغې پورې چې تاسو د انسان د زوی بدن
ونه خورئ او د هغه وينه ونه څښئ نو تاسو به تلپاتې ژوندون ونه
لرئ. ۵۴ هرڅوک چې زما بدن وخوري او زما وينه وڅښي نو هغه
به د تلپاتې ژوندون خاوند وي او زه به هغه د اخرت په ورځ
راژوندی کړم. ۵۵ ځکه چې زما بدن رښتيني خواړه دي او زما
وينه رښتيني څښاک ده. ۵۶ هرڅوک چې زما بدن وخوري او زما
وينه وڅښي نو هغه به په ما کې وي او زه به په هغه کې يم. ۵۷
لکه څنګه چې اسماني پلار چې ژوند ورکوي زه راولېږلم او زه د
هغه له امله ژوندی يم، نو په همدې ډول هرڅوک چې زما بدن
وخوري نو هغه به زما له امله ژوندی وي. ۵۸ دا هغه ډوډۍ ده
چې د اسمان څخه رانازله شوې ده او دا د هغې ډوډۍ په شان نه ده
چې ستاسو نيکونو وخوړله او مړه شول. هرڅوک چې دا ډوډۍ
وخوري نو هغه به تل ترتله ژوندی وي.»

۵۹ دا خبرې عيسی هغه وخت په کنيسه کې وکړلې کله چې هغه په
کپرناحوم کې تعليم ورکاوه.

## د تلپاتې ژوندون خبرې

۶۰ د هغه ډېرو پيروانو چې کله دا خبرې واورېدلې نو ويې ويل:
«دا ډېره سخته ده، څوک کولای شي دا خبرې ومني؟»

۶۱ عيسی په خپل زړه کې پوه شو چې شاګردان يې په دې خبره
باندې شکايت کوي، نو هغوی ته يې وويل: «ايا تاسو په دې باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خفه شوئ؟ ۶۲ که چېرې تاسو د انسان زوی ووينئ چې بېرته هغه
ځای ته ورخېژي چې پخوا په کې ؤ، نو تاسو به څه فکر وکړئ؟
۶۳ دا د خدای روح دی چې انسانانو ته ژوند وربخښي، انساني
قوت هېڅ نه شي کولای. ما چې تاسو ته کومې خبرې کړې دي هغه
هم روح دی او هم ژوندون. ۶۴ خو بیاهم په تاسو کې ځينې
خلک شته چې په ما ايمان نه لري.» ځکه چې عيسی ته د هماغې
ورځې نه چې تعليم يې پيل کړ دا معلومه وه چې څوک به ايمان نه
راوړي او څوک به د هغه سره خيانت کوي. ۶۵ بيا هغه وويل: «په
همدې سبب ما تاسو ته وويل چې هېڅوک نه شي کولای ماته راشي
ترڅو پورې چې پلار ورته دا توان ورکړی نه وي.»

۶۶ د دې خبرې نه وروسته د عيسی ډېرو پيروانو هغه پرېښود او
نور يې د هغه ملګرتيا ونه کړه. ۶۷ نو عيسی د دولسو شاګردانو
څخه پوښتنه وکړه: «ايا تاسو هم غواړئ چې ما پرېږدئ؟» ۶۸
شمعون پطروس ځواب ورکړ: «ای استاذه، مونږ به چاته لاړ شو؟ ستا
سره هغه خبرې دي چې تلپاتې ژوندون ورکوي. ۶۹ مونږ په تا
باندې ايمان راوړی دی او په دې باندې پوه شوي يو چې ته د خدای
سپېڅلی يې.» ۷۰ عيسی ځواب ورکړ: «ايا تاسو دولس واړه ما
غوره نه کړئ؟ خو بياهم په تاسو کې يو تن شيطان دی!» ۷۱
عيسی دا خبرې د شمعون اسخريوتي د زوی يهودا په هکله کولې، که
څه هم هغه د دولسو شاګردانو څخه ؤ، هغه به د عيسی سره خيانت
وکړي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی او د هغه ورونه

۷ ۱ هغې نه وروسته عیسی په جلیل کې ګرځېده. هغه نه
غوښتل چې په یهودیه کې پاتې شي، ځکه چې د یهودیانو مشرانو
غوښتل هغه ووژني. ۲ کله چې د یهودیانو د جونګړو اختر
رانژدې شو، ۳ نو ورونو یې عیسی ته وویل: «دا سیمه پرېږده او
یهودیې ته لاړ شه ترڅو ستا پیروان ستا معجزې ووینې. ۴ څوک
چې غواړي مشهور شي نو هغه خپل کارونه په پټه نه کوي. که چېرې
ته داسې کارونه کوې نو پرېږده چې ټوله نړۍ دې وپېژني.» ۵
ځکه چې د هغه ورونو هم په هغه باندې ایمان نه درلود. ۶ عیسی
هغوی ته وویل: «زما دپاره ټاکل شوی وخت لا تر اوسه نه دی
رارسېدلی، خو ستاسو دپاره هر وخت مناسب دی. ۷ د نړۍ
خلک نه شي کولای کوم دلیل پیدا کړي چې ستاسو نه کرکه وکړي،
خو زما نه کرکه کوي ځکه چې زه هغوی ته شاهدي ورکوم چې د
دوی کارونه غلط دي. ۸ تاسو د اختر دپاره لاړ شئ، زه دې اختر
ته نه ځم ځکه چې زما دپاره هغه ټاکل شوی وخت لا نه دی
رارسېدلی.» ۹ هغه دا خبره وکړه او په جلیل کې پاتې شو.

## عیسی د جونګړو اختر ته ځي

۱۰ وروسته له هغې چې د عیسی ورونه اختر ته لاړل، نو عیسی
هم لاړ خو په ښکاره نه بلکې په پټه. ۱۱ د یهودیانو مشران د اختر
په ورځو کې هغه پسې ګرځېدل او د خلکو نه یې پوښتنه کوله: «هغه
سړی چېرته دی؟» ۱۲ د خلکو په منځ کې د هغه په هکله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګونګسي راپیدا شوي. ځینو ویل: «هغه ښه سړی دی.» او نورو ویل:
«هغه خلک بې لارې کوي.» ۱۳ خو د یهودیانو د مشرانو له وېرې
هیچا د هغه په هکله ښې خبرې نه شوې کولې.

۱۴ کله چې د اختر نیمې ورځې تېرې شوې، نو عیسی د خدای
کور ته لاړ او په تعلیم ورکولو یې شروع وکړه. ۱۵ د یهودیانو
مشرانو په حیرانتیا سره وویل: «دا بې تعلیمه سړی په دومره شیانو
باندې څنګه پوهېږي؟» ۱۶ عیسی ځواب ورکړ: «کوم تعلیم چې
زه یې ورکوم هغه زما خپل تعلیم نه دی، بلکې دا د هغه چا تعلیم دی
چې زه یې رالېږلی یم. ۱۷ که چېرې څوک غواړي چې د خدای
رضا پوره کړي، نو هغه به په دې پوه شي چې کوم تعلیم چې زه یې
ورکوم هغه د خدای له خوا دی یا که زه له خپله ځانه خبرې کوم.
۱۸ څوک چې له خپله ځانه خبرې کوي هغه د خپل ځان دپاره
لویي غواړي. خو څوک چې د هغه چا لویي غواړي چې هغه یې
رالېږلی دی هغه صادق دی او په هغه کې هېڅ ټګي نشته. ۱۹ ایا
تاسو ته موسی شریعت درنه کړ؟ خو په تاسو کې هېڅوک هم په هغه
شریعت باندې عمل نه کوئ. نو بیا تاسو ولې غواړئ چې ما
ووژنئ؟» ۲۰ خلکو ځواب ورکړ: «ته پېریانو نیولی یې! څوک
غواړي چې تا ووژني؟» ۲۱ عیسی په ځواب کې وویل: «ما یوه
معجزه وښودله او تاسو ټول ورته حیران شوئ. ۲۲ موسی تاسو ته
حکم وکړ چې خپل زامن سنت کړئ خو په حقیقت کې د سنتولو دا
رسم او رواج د موسی له خوا نه، بلکې ستاسو د نیکونو له وخته پیل
شوی دی. همدارنګه تاسو د سبت په ورځ خپل زامن سنتوئ. ۲۳
که چېرې تاسو خپل زامن د سبت په ورځ سنتوئ چې د موسی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شريعت مات نه شي، نو بيا ولې په ما باندې په قهر يئ چې د سبت
په ورځ مې يو سړی روغ رمټ کړ؟ ۲۴ تاسو په ظاهره قضاوت مه
کوئ، بلکې د انصاف له مخې قضاوت وکړی.»

## ايا عيسی مسيح دی؟

۲۵ په دې وخت کې د اورشليم ځينو خلکو وويل: «ايا دا هماغه
سړی نه دی چې يهودي مشران يې غواړي ووژني؟ ۲۶ وګورئ،
هغه دلته په ښکاره لګيا دی خبرې کوي او هغوی ورته هيڅ هم نه
وايي! ايا داسې خو نه ده چې زمونږ مشران په رښتيا سره پوهيږي
چې هغه مسيح دی؟ ۲۷ خو مونږ پوهيږو چې دا سړی د کوم ځای
دی او کله چې مسيح راشي، نو هيڅوک به نه پوهيږي چې هغه د
کوم ځای دی.»

۲۸ کوم وخت چې عيسی د خدای په کور کې تعليم ورکاوه نو په
لوړ اواز يې وويل: «هو، تاسو ما پيژنئ او په دې پوهيږئ چې زه د
کوم ځای يم. خو زه په خپله خوښه نه يم راغلی، هغه چا چې زه
رالیږلی يم هغه رښتينی دی او تاسو هغه نه پيژنئ. ۲۹ خو زه هغه
پيژنم، ځکه چې زه د هغه له خوا راغلی يم او زه هغه رالیږلی يم.»
۳۰ بيا په هغه ځای کې ځينو خلکو کوښښ وکړ چې هغه
راونيسي، خو هيچا هغه ته لاس ور نه وړ، ځکه چې هغه ټاکلی
شوی وخت لا نه ؤ رارسيدلی. ۳۱ خو بياهم په هغو خلکو کې
ډيرو په هغه باندې ايمان راوړ او ويې ويل: «کله چې مسيح راشي ايا
هغه به د دې سړي نه زياتې معجزې وښايي؟»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د عیسی د نیولو دپاره د خدای د کور ساتونکي لېږل کیږي

٣٢ فریسیانو د عیسی په هکله د خلکو ګونګوسې واورېدلې، نو
دوی او مشرانو کاهنانو د خدای د کور ساتونکي ولېږل چې عیسی
ونیسي. ٣٣ خو عیسی هغوی ته وویل: «زه به د لږ نور وخت
دپاره ستاسو سره یم او بیا به هغه چاته ورځم چې زه یې رالېږلی یم.
٣٤ تاسو به ما پسې ګرځئ، خو ما به پیدا نه کړئ او په کوم ځای
کې به چې زه یم هلته تاسو نه شئ راتللی.» ٣٥ یهودي مشرانو په
خپلو کې یو بل ته سره وویل: «دا سړی چېرته غواړي لاړ شي چې
مونږ یې نه شو پیدا کولای؟ ایا هغه غواړي چې هغو غیریهودي
ښارونو ته لاړ شي چې زمونږ خلک په کې اوسیږي او غیریهودي
خلکو ته تعلیم ورکړي؟ ٣٦ د دې خبرې نه د هغه مطلب څه دی
چې تاسو به په ما پسې ګرځئ، خو پیدا کولای به مې نه شئ او په
کوم ځای کې چې زه یم تاسو هلته نه شئ راتللی؟»

# د ژوندون د اوبو ویالې

٣٧ د اختر په اخره ورځ یعنې هغه ورځ چې ډېر مهم مراسم په کې
تر سره کیږي، عیسی ودرېده او په لوړ اواز یې وویل: «که څوک تږی
وي نو هغه دې ماته راشي او زه به ورته یو څه ورکړم چې ویې
څښي. ٣٨ څوک چې په ما باندې ایمان راوړي نو لکه څنګه چې
د خدای کلام وایي : ‹د ژوندون د اوبو ویالې به د هغه نه رابهیږي.›»
٣٩ عیسی دا خبره د روح القدس په هکله وکړه چې په هغو خلکو
باندې به نازلیږي کوم چې په هغه باندې ایمان راوړي. تر هغه وخته
پورې لا روح القدس نه ؤ نازل شوی، ځکه چې عیسی لا خپل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جلال ته نه ؤ رسېدلی.

## د خلکو په منځ کې بې اتفاقي

۴۰ کله چې خلکو دا خبرې واورېدلې نو ځینو یې وویل: «دا سړی
په رښتیا سره هماغه پیغمبر دی چې مونږ ورته په تمه یو.» ۴۱
نورو وویل: «هغه مسیح دی.» خو نورو وویل: «ایا مسیح د جلیل نه
راځي؟ ۴۲ ایا د خدای کلام دا نه وایي چې مسیح به د داود د
کورنۍ څخه وي او د داود د کلي یعنې بیت لحم څخه به وي؟» ۴۳
په دې ډول د عیسی په اړه د خلکو په منځ کې بې اتفاقي راپیدا شوه.
۴۴ ځینو غوښتل چې هغه ونیسي، خو هېچا ورته لاس ورنه وړ.

## د یهودیانو مشران په عیسی باندې ایمان نه راوړي

۴۵ کله چې د خدای د کور ساتونکي بېرته مشرانو کاهنانو او
فریسیانو ته ورغلل، نو هغوی د ساتونکو څخه پوښتنه وکړه: «هغه
مو ولې رانه ووست؟» ۴۶ ساتونکو ځواب ورکړ: «تر اوسه پورې
هېچا داسې خبرې نه دي کړي لکه دا سړی یې چې کوي.» ۴۷
فریسیانو هغوی ته وویل: «ایا هغه تاسو هم بې لارې کړي یئ؟ ۴۸
ایا تاسو اورېدلي دي چې د مشرانو او یا د فریسیانو څخه کوم چا په
هغه باندې ایمان راوړی دی؟ بې له شکه چې نه، ۴۹ خو دا خلک
چې د موسی د شریعت نه خبر نه دي، لعنتیان دي!» ۵۰
نیکودیموس چې د فریسیانو د ډلې څخه ؤ، یعنې هغه سړی چې
یوځل مخکې عیسی ته ورغلی ؤ، هغوی ته وویل: ۵۱ «ایا زمونږ
شریعت مونږ ته اجازه راکوي چې کوم څوک مخکې له دې چې د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه خبرې واورو او په دې پوه شو چې هغه څه کړي دي، مجرم
اعلان کړو؟» ٥٢ هغوی په ځواب کې وویل: «ایا ته هم جلیلي
یې؟ د خدای کلام ولوله، نو بیا به پوه شې چې په جلیل کې به هېڅ
کوم پیغمبر پیدا نه شي.» ٥٣ [بیا ټول خپلو کورونو ته لاړل.

## هغه ښځه چې د زنا په وخت کې ونیول شوه

٨ ١ خو عیسی د زیتون غره ته لاړ. ٢ بله ورځ سهار وختي
هغه بېرته د خدای کور ته لاړ او ټول خلک ورته راټول شول. هغه
کېنېناست او هغوی ته یې تعلیم شروع کړ. ٣ په دې وخت کې د
شریعت عالمانو او فریسیانو یوه ښځه چې د زنا په وخت کې یې
نیولې وه هغه ته راوستله او د ټولو په مخکې یې ودروله. ٤ هغوی
عیسی ته وویل: «استاذه، دا ښځه د زنا کولو په وخت کې نیول شوې
ده. ٥ موسی په شریعت کې مونږ ته حکم کړی دی چې داسې
ښځې باید سنګساري شي. خو ته په دې هکله څه وایې؟» ٦
هغوی دا خبره د دې دپاره وکړه چې عیسی په دام کې راونیسي،
ترڅو وکولای شي په هغه باندې تور ولګوي. خو هغه خپل سر
ښکته واچاوه او په خپله ګوته یې په ځمکه باندې لیکل شروع کړل.
٧ کله چې هغوی په پرله پسې توګه د هغه نه سوالونه کول، نو
عیسی خپل سر راپورته کړ او هغوی ته یې وویل: «په تاسو کې چې
کوم چا هېڅکله هم ګناه نه وي کړې نو هغه به اولنی کس وي چې
هغه په تیږه باندې ولي.» ٨ عیسی یوځل بیا خپل سر ښکته
واچاوه او په ځمکه باندې یې لیکل کول. ٩ کله چې هغوی دا
خبره واورېدله نو زاړه خلک لومړي لاړل او بیا ځوانان ورپسې روان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شول. عیسی د هغې ښځې سره چې هلته لا ولاړه وه يوازې پاتې
شو. ۱۰ عیسی خپل سر راپورته کړ او هغې ښځې ته يې وويل:
«هغوی څه شول؟ هېڅوک ته محکومه نه کړې؟» ۱۱ هغې ځواب
ورکړ: «هېڅوک هم نه، ښاغليه.» عیسی وويل: «نو بيا زه هم تا نه
محکوموم، ځه او بيا نوره ګناه مه کوه.»]

## عیسی د نړۍ دپاره رڼا ده

۱۲ عیسی يوځل بيا د خلکو سره خبرې وکړې او ويې ويل: «زه د
نړۍ دپاره رڼا يم! څوک چې زما پيروي کوي، هغه به په تياره کې نه
ګرځي، بلکې د هغه سره به د ژوندون رڼا وي.» ۱۳ فريسيانو هغه
ته وويل: «ته د خپل ځان په هکله شاهدي ورکوې نو ستا شاهدي
اعتبار نه لري.» ۱۴ عیسی په ځواب کې وويل: «حتی که زه د
خپل ځان په هکله هم شاهدي ورکوم نو زما شاهدي اعتبار لري،
ځکه زه پوهېږم چې د کوم ځای نه راغلی يم او چېرته به ځم. خو
تاسو نه پوهېږئ چې زه د کوم ځای نه راغلی يم او چېرته ځم. ۱۵
تاسو د انسانانو د رسمونو او رواجونو له مخې قضاوت کوئ، خو زه
د هېچا په هکله داسې قضاوت نه کوم. ۱۶ خو که زه قضاوت هم
کوم نو هغه سم دی، ځکه چې دا کار زه يوازې نه کوم بلکې هغه
پلار چې زه يې رالېږلی يم په دې کار کې زما سره دی. ۱۷ ستاسو
په شريعت کې ليکل شوي دي چې که چېرې دوه کسه د يوې
موضوع په هکله شاهدي اعتبار لري. ۱۸ يو زه يم چې د خپل
ځان په هکله شاهدي ورکوم او بل شاهد زما پلار دی چې زه يې
رالېږلی يم.» ۱۹ بيا هغوی د هغه نه پوښتنه وکړه: «ستا پلار چېرته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی؟» عیسی ځواب ورکړ: «تاسو نه ما پېژنئ او نه زما پلار. که تاسو
زه پېژندلی نو زما پلار به مو هم پېژانده.» ۲۰ عیسی دا خبرې هغه
وخت وکړلې، کله چې هغه د خدای د کور په خزانه کې خلکو ته
تعلیم ورکاوه. خو هېچا هم هغه ونه نیوه ځکه چې د هغه وخت لا نه
ؤ رارسېدلی.

## د خپل مرګ په هکله د عیسی خبرې

۲۱ عیسی یوځل بیا هغوی ته وویل: «زه ځم او تاسو به ما پسې
ګرځئ خو که تاسو خپلو ګناهونو ته دوام ورکړئ نو مړه به شئ.
چېرته چې زه ځم تاسو هلته نه شئ راتللی.» ۲۲ نو خلکو یو بل
ته سره وویل: «کله چې هغه وايي: ‹چېرته چې زه ځم تاسو هلته نه
شئ راتللی،› ایا د هغه مقصد دا دی چې هغه به خپل ځان ووژني؟»
۲۳ عیسی هغوی ته وویل: «تاسو د ځمکې خلک یئ خو زه د
اسمان نه راغلی یم. تاسو د دې نړۍ یئ، خو زه د دې نړۍ نه یم.
۲۴ نو ځکه مې تاسو ته وویل چې تاسو به په خپلو ګناهونو کې
مړه شئ. که چېرې تاسو په دې باندې ایمان رانه وړئ چې زه هماغه
یم، نو په خپلو ګناهونو کې به مړه شئ.» ۲۵ هغوی د هغه نه
پوښتنه وکړه: «ته څوک یې؟» عیسی ځواب ورکړ: «زه هماغه څوک
یم چې د اول نه مې تاسو ته وویل. ۲۶ زما سره زیات شیان شته
چې ستاسو په هکله یې ووایم او قضاوت وکړم، خو زه هغه نه وایم.
چا چې زه رالېږلی یم هغه رښتینی دی او څه چې ما د هغه نه
اورېدلي دي هغه نړۍ ته وایم.» ۲۷ هغوی په دې پوه نه شول چې
عیسی د هغوی سره د خپل اسماني پلار په هکله خبرې کولې. ۲۸

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو عیسی هغوی ته وویل: «کله چې تاسو د انسان زوی وخېژوئ نو
بیا به پوه شئ چې زه هماغه یم. زه د خپل ځانه کوم کار نه کوم،
بلکې هغه خبرې کوم چې پلار مې راته ښودلې دي. ۲۹ چا چې زه
رالېږلی یم هغه زما سره مل دی. هغه زه یوازې نه یم پرېښی، ځکه
چې زه تل هغه کار کوم چې هغه ورباندې خوشحالېږي.» ۳۰ کله
چې عیسی دا خبرې وکړې نو ډېرو ورباندې ایمان راوړ.

## حقیقت تاسو ازادوي

۳۱ نو کومو خلکو چې په عیسی باندې ایمان راوړی ؤ عیسی
هغوی ته وویل: «که چېرې تاسو تل زما په تعلیم باندې عمل وکړئ
نو په رښتیا به زما شاګردان یئ ۳۲ او تاسو به حقیقت وپېژنئ او
حقیقت به تاسو ازاد کړي.» ۳۳ هغوی ځواب ورکړ: «مونږ د
ابراهیم اولاد یو او مونږ هېڅکله هم د چا غلامان شوي نه یو. نو بیا
د دې خبرې نه ستا مطلب څه دی چې تاسو به ازاد شئ؟» ۳۴
عیسی هغوی ته وویل: «په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې
هرڅوک چې ګناه کوي نو هغه د ګناه غلام دی. ۳۵ غلام تل په یوه
کورنۍ کې نه پاتې کېږي، خو زوی تل د کورنۍ غړی وي. ۳۶ نو
که چېرې زوی تاسو ازاد کړي نو تاسو به په رښتیا سره ازاد اوسئ.
۳۷ زه تاسو پېژنم چې د ابراهیم اولاده یئ. خو په دې خاطر چې
زما تعلیم ستاسو په زړونو کې ځای نه لري نو غواړئ چې ما ووژنئ.
۳۸ زه ستاسو سره د هغو شیانو په هکله خبرې کوم چې د پلار په
حضور کې مې لیدلې دي. خو تاسو هغه څه کوئ چې د خپل پلار نه
مو اورېدلي دي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی وایي شیطان د دروغجنو پلار دی

۳۹ هغوی وویل: «ابراهیم زمونږ پلار دی.»

عیسی هغوی ته وویل: «که چېرې تاسو په رښتیا د ابراهیم اولاده
وای نو هغه کارونه به مو کول چې ابراهیم کول. ۴۰ خو اوس تاسو
غواړئ چې ما ووژنئ، ما چې تاسو ته هغه حقیقت ویلی دی چې د
خدای له خوا مې اورېدلی ؤ. ابراهیم هېڅکله هم داسې کار نه دی
کړی. ۴۱ تاسو هغه کارونه کوئ چې پلار مو کوي.» هغوی وویل:
«مونږ حرامیان نه یو، مونږ یو پلار لرو او هغه خدای دی.» ۴۲
عیسی هغوی ته وویل: «که خدای په رښتیا ستاسو پلار وای نو زه به
تاسو باندې ګران وای، ځکه چې زه د خدای له خوا راغلی یم او
اوس دلته یم. زه په خپل سر نه یم راغلی، بلکې هغه رالېږلی یم.
۴۳ تاسو ولې زما په خبرو نه پوهېږئ؟ ځکه چې تاسو نه غواړئ
چې زما تعلیم ته غوږ ونیسی. ۴۴ تاسو د خپل پلار یعنې شیطان
اولادونه یئ او د خپل پلار په خوښه کارونه کوئ. هغه له پیل نه
قاتل ؤ او هېڅکله د حقیقت طرفدار نه دی، ځکه چې هغه هېڅکله
حقیقت نه دي ویلي. کله چې هغه دروغ وایي نو له خپله ځانه یې
وایي ځکه چې هغه دروغجن دی او د ټولو دروغو پلار دی. ۴۵
خو کله چې زه رښتیا وایم تاسو په ما باندې باور نه کوئ. ۴۶ په
تاسو کې څوک کولای شي دا ثابته کړي چې ما ګناه کړې ده؟ که
چېرې زه حقیقت وایم نو بیا ولې په ما باندې باور نه کوی؟ ۴۷
هرڅوک چې د خدای له خوا راځي هغه د خدای کلام ته غوږ نیسي،
خو تاسو د خدای نه یئ نو له دې امله د خدای کلام ته غوږ نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیسئ.»

## عیسی او ابراهیم

۴۸ خلکو عیسی ته په ځواب کې وویل: «ایا مونږ په حقه نه یو
چې وایو ته سامري یې او پېریانو نیولی یې؟» ۴۹ عیسی وویل:
«زه پېریانو نه یم نیولی، بلکې د خپل پلار احترام کوم، خو تاسو زما
سپکاوی کوئ. ۵۰ زه د خلکو نه د خپل ځان دپاره لویي نه
غواړم، خو یو بل څوک شته چې هغه غواړي چې زما عزت دې
وشي او هغه سم قضاوت کوي. ۵۱ په یقین سره زه تاسو ته دا وایم
چې که څوک زما په تعلیم باندې عمل وکړي نو هغه به هېڅکله مړ
نه شي.» ۵۲ خلکو هغه ته وویل: «اوس مونږ پوره ډاډه یو چې ته
پېریانو نیولی یې. ابراهیم مړ شو او نور پیغمبران هم مړه شول، خو ته
بیاهم وایې چې که څوک زما په تعلیم باندې عمل وکړي نو هغه به
هېڅکله مړ نه شي. ۵۳ ایا ته زمونږ د پلار ابراهیم او نورو
پیغمبرانو نه چې مړه شول ډېر لوی یې؟ ته څه فکر کوې چې څوک
یې؟» ۵۴ عیسی ځواب ورکړ: «که زه خپل ځان لوی وګڼم نو دا
لویي به هېڅ معنی ونلري. خو دا زما پلار دی چې ماته لویي راکوي،
هماغه څوک چې تاسو وایئ چې زمونږ خدای دی. ۵۵ که څه هم
تاسو هغه نه پېژنئ، خو زه هغه پېژنم. خو که زه ووایم چې هغه نه
پېژنم نو زه به ستاسو په شان دروغجن یم، خو زه هغه پېژنم او د هغه
په تعلیم باندې عمل کوم. ۵۶ ستاسو پلار ابراهیم په دې خاطر
خوشحاله ؤ چې زما د راتللو ورځ ووینې. نو هغه یې ولیدله او
خوشحاله شو.» ۵۷ خلکو هغه ته وویل: «ته خو لا د پنځوسو کالو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم نه یې، نو بیا څنګه ویلی شې چې ابراهیم دې لیدلی دی؟» ۵۸
عیسی ځواب ورکړ: «په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې ابراهیم لا
پیدا شوی هم نه ؤ چې زه یم.» ۵۹ په دې خبره هغوی تیارې
راواخیستلې چې عیسی وربانديې سنګسار کړي، خو عیسی د خلکو
له نظره پناه شو او د خدای د کور نه لاړ.

## عیسی یو سړي ته چې د موره ړوند پیدا شوی ؤ شفا ورکوي

۹ ۱ کله چې عیسی په لاره تېرېده نو یو سړی یې ولیده چې د
پیدایښت نه ړوند ؤ. ۲ شاګردانو یې ترې پوښتنه وکړه: «استاذه،
ګناه چا کړې ده، دې سړي یا د ده مور او پلار چې هغه ړوند پیدا
شوی دی؟» ۳ عیسی ځواب ورکړ: «نه دې سړي او نه یې مور
او پلار ګناه کړې ده، بلکې هغه د دې دپاره ړوند پیدا شو چې د هغه
په وجود کې د خدای کار ولیدل شي. ۴ تر هغې پورې چې لا
ورځ ده باید هغه کارونه سرته ورسوو چې د هغه چا له خوا مونږ ته
سپارل شوي دي چې زه یې رالېږلی یم. کله چې شپه شي نو هېڅوک
کار نه شي کولای. ۵ ترڅو پورې چې په دې نړۍ کې یم د نړۍ
دپاره رڼا یم.» ۶ څنګه چې عیسی دا خبره وکړه نو په ځمکه
باندې یې لاړې واچولې او په لاړو یې خټه جوړه کړه او هغه یې د
هغه سړي په سترګو باندې وموږله ۷ او ورته ویې ویل: «لاړ شه
او د سیلوام په حوض کې خپلې سترګې ووینځه.» (د سیلوام معنی ده
لېږل شوی.) نو هغه سړی لاړ، خپلې سترګې یې ووینځلې او بېرته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې راغلی نو بینا ۀ.

۸ د هغه ګاونډیانو او هغو خلکو چې د پخوا نه یې هغه پېژانده
چې خیرات به یې غوښته وویل: «ایا دا هماغه ړوند سوالګر سړی نه
دی چې ناست به ۀ او خیرات به یې غوښته؟» ۹ ځینو وویل: «دا
هماغه سړی دی.» خو نورو وویل: «نه، دا د هغه په شان ښکاري.»
خو هغه خپله وویل: «زه هماغه سړی یم.» ۱۰ نو هغوی ترې
پوښتنه وکړه: «ستا سترګې څنګه بینا شوې؟» ۱۱ هغه ځواب
ورکړ: «هغه سړی چې عیسی نومېده لږه خټه جوړه کړه او زما په
سترګو باندې یې ومورله او راته ویې ویل چې د سیلوام حوض ته
لاړ شه او هلته یې ووینځه. نو زه لاړم او خپلې سترګې مې ووینځلې
او بینا شوم.» ۱۲ هغوی پوښتنه وکړه: «هغه چېرته دی؟» هغه
ځواب ورکړ: «زه نه پوهېږم.»

## فریسیان د شفا موندنې په هکله څېړنه کوي

۱۳ بیا ځینې خلکو هغه سړی چې مخکې ړوند ۀ فریسیانو ته
راوست. ۱۴ دا د سبت ورځ وه چې عیسی خټه جوړه کړې وه او د
هغه سترګې یې بینا کړې وې. ۱۵ دوهم ځل فریسیانو د هغه سړي
نه پوښتنه وکړه چې څنګه بینا شو. هغه سړي هغو ته وویل: «هغه زما
په سترګو باندې خټه کېښودله او ما هغه ووینځلې او اوس هرڅه
لیدلی شم.» ۱۶ ځینو فریسیانو وویل: «هغه سړی د خدای له خوا
نه دی راغلی، ځکه چې د سبت ورځ نه مراعتوي.» خو نورو وویل:
«یو ګناهکار سړی څنګه داسې د قدرت نښنه ښودلی شي؟» او د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی ترمنځ اختلاف راپیدا شو.

۱۷ نو فریسیانو یوځل بیا د هغه سړي نه پوښتنه وکړه: «ته د هغه
سړي په هکله چې ستا سترګې يې بینا کړلې څه وايې؟» هغه سړي
ځواب ورکړ: «هغه پیغمبر دی.» ۱۸ خو یهودي مشرانو په دې
باندې باور نه کاوه چې هغه سړی پخوا ړوند ؤ او اوس بینا شوی دی
ترڅو يې د هغه مور او پلار راوغوښتل. ۱۹ یهودي مشرانو د
هغوی نه پوښتنه وکړه: «ایا دا ستاسو زوی دی؟ تاسو وایئ چې هغه
ړوند پیدا شوی دی؟ نو بیا څنګه اوس کولای شي چې ووینې؟»
۲۰ د هغه سړي مور او پلار په ځواب کې وویل: «مونږ پوهېږو
چې دا زمونږ زوی دی او ړوند پیدا شوی دی. ۲۱ خو مونږ نه
پوهېږو چې هغه څنګه بینا شو یا چا د هغه سترګې بینا کړلې. د هغه
نه پوښتنه وکړئ، هغه بالغ دی او په خپله ځواب ویلی شي!» ۲۲ د
هغه مور او پلار په دې خاطر داسې وویل چې هغوی د یهودي
مشرانو نه وېرېدل، ځکه چې هغوی لا د مخکې نه په دې موافقه
کړې وه چې هرڅوک چې اقرار وکړي چې عیسی هماغه مسیح دی،
نو هغه به د کنیسې نه وشړي. ۲۳ نو له دې امله د هغه سړي مور
او پلار وویل: «هغه بالغ دی، پوښتنه ترې وکړئ.»

۲۴ هغوی د دوهم ځل دپاره هغه سړی چې مخکې ړوند ؤ
راوغوښت او ورته وېې ویل: «د خدای په نوم قسم وخوره چې
رښتیا به وایې! مونږ پوهېږو چې دا سړی ګناهکار دی.» ۲۵ هغه
سړي ځواب ورکړ: «دا چې هغه ګناهکار دی او که نه دی زه نه
پوهېږم، خو په یو شي باندې پوهېږم چې زه ړوند وم او اوس بینا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوی یم.» ۲۶ هغوی پوښتنه وکړه: «هغه تا سره څه وکړل او
څنګه یې ستا سترګې روغې کړلې؟» ۲۷ هغه ځواب ورکړ: «ما
مخکې تاسو ته وویل خو تاسو نه غوښتل چې زما خبره واورئ. نو
تاسو ولې غواړئ چې یوځل بیا یې واورئ؟ ایا تاسو هم غواړئ چې
د هغه شاګردان شئ؟» ۲۸ بیا هغوی هغه سړي ته ښکنځلې وکړې
او ورته ویې ویل: «ته د هغه شاګرد یې، خو مونږ د موسی شاګردان
یو. ۲۹ مونږ پوهېږو چې خدای د موسی سره خبرې کړې وې، خو
خبر نه یو چې دا سړی له کوم ځایه راغلی دی.» ۳۰ هغه سړي په
ځواب کې وویل: «څومره حیرانوونکې خبره ده! هغه زما سترګې بینا
کړلې، خو تاسو لا اوس هم خبر نه یئ چې هغه له کوم ځای نه
راغلی دی. ۳۱ مونږ پوهېږو چې خدای د ګناهکارانو دعا نه اوري،
خو هغه د دینداره خلکو چې د هغه رضا پوره کوي دعاګانې اوري.
۳۲ د نړۍ د پیدایښت نه هېچا نه دي اورېدلي چې کوم چا د
پیدایشي ړوند سترګې بینا کړې وي. ۳۳ که چېرې دا سړی د
خدای له خوا نه وای راغلی نو هغه هېڅ نه شو کولای.» ۳۴ هغوی
په ځواب کې وویل: «د کومې ورځې نه چې ته پیدا شوی یې ړوند
او ګناهکار یې، نو بیا ته څوک یې چې مونږ ته درس راکوې؟» بیا
یې هغه د کنیسې نه وشړلو.

## روحاني ړوندوالی

۳۵ کله چې عیسی واورېدل چې هغوی هغه سړی د کنیسې نه
شړلی دی نو هغه یې لټاوه او پیدا یې کړ نو پوښتنه یې ترې وکړه:
«ایا ته د انسان په زوی ایمان لرې؟» ۳۶ هغه سړي په ځواب

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وویل: «ښاغلیه، ماته ووایه چې هغه څوک دی چې زه ورباندې
ایمان راوړم.» ۳۷ عیسی ورته وویل: «تا هغه لیدلی دی او دا
هماغه سړی دی چې همدا اوس درسره خبرې کوي.» ۳۸ هغه
سړي وویل: «هو، څښتنه، زه درباندې ایمان لرم.» او هغه ته په
سجده پرېوت.

۳۹ بیا عیسی هغه ته وویل: «زه دې نړۍ ته د قضاوت کولو دپاره
راغلی یم چې ړانده بینا شي او بینا ړانده شي.» ۴۰ ځینې فریسیان
چې د عیسی سره نژدې ولاړ وو دا خبرې واورېدلې او پوښتنه یې
ترې وکړه: «ستا مقصد دا دی چې مونږ هم ړانده یو؟» ۴۱ عیسی
هغوی ته وویل: «که تاسو ړانده وای نو ستاسو ګناه به نه وه، خو دا
چې تاسو وایئ مونږ بینا یو، نو د دې معنی دا ده چې تاسو لا
تر اوسه هم ګناهکاران یئ.»

## د شپون مثال

۱۰ ۱ «په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې هرڅوک چې د
پسونو پنډغالي ته د دروازې په لاره نه ورننوځي، بلکې د کومې بلې
لارې نه ورننوځي هغه غل او داړه مار دی. ۲ خو کوم سړی چې
په دروازه ورننوځي هغه د پسونو شپون دی. ۳ څوکیدار هغه ته
دروازه خلاصوي او کله چې هغه خپلو پسونو ته نوم اخلي او نارې
ورته وهي نو پسونه د هغه اواز پېژني او هغه یې دباندې وباسي. ۴
کله چې هغه خپل ټول پسونه وباسي نو شپون یې مخکې روان وي او
پسونه ورپسې وي، ځکه چې د هغه اواز پېژني. ۵ هغوی د پردي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سرِي پسې نه ځي، بلکې د هغه نه تښتي، ځکه چې هغوی د پردي
سړي اواز نه پېژني.» ۶ عیسی هغوی ته دا مثال راوړ، خو هغوی
په دې پوه نه شول چې د هغه مقصد څه دی.

## عیسی وايي چې هغه لکه د يو نېک شپون په شان دی

۷ عیسی يوځل بيا هغوی ته وويل: «په يقين سره زه تاسو ته دا
وايم چې زه د پسونو دپاره د دروازې په شان يم. ۸ هغه ټول نور
چې زما نه مخکې راغلي وو، غله او داړه ماران وو او پسونو د هغوی
اواز ته غوږ نه دی نيولی. ۹ زه د دروازې په شان يم. هرڅوک
چې زما له لارې ننوځي نو هغوی به وژغورل شي. هغوی به ځي او
راځي او ښه څرځای به پيدا کوي. ۱۰ غل يوازې د غلا، قتل او
بربادۍ دپاره راځي. زه د دې دپاره راغلی يم چې زما پسونه ژوندون
ومومي او د هغوی په ژوند کې هرڅه پرېمانه وي. ۱۱ زه نېک
شپون يم، داسې شپون چې د خپلو پسونو په خاطر خپل ځان
قربانوي. ۱۲ خو يو مزدور چې شپون نه دی او پسونه يې خپل نه
دي، نو کله چې ويني چې لېوه راروان دی، پسونه پرېږدي او تښتي.
لېوه به په پسونو باندې حمله وکړي، پسونه به په زوره بوځي او
خواره واره به يې کړي. ۱۳ هغه به وتښتي، ځکه چې هغه مزدور
دی او د پسونو پروا نه لري. ۱۴ زه نېک شپون يم. زه خپل پسونه
پېژنم او هغوی ما پېژني. ۱۵ لکه څنګه چې ما پلار پېژني، زه هم
پلار پېژنم او زه خپل ځان د پسونو دپاره قرباني کوم. ۱۶ زه نور
پسونه هم لرم خو هغه د دې شپول نه دي، هغه هم بايد راولم. هغوی
به هم زما اواز اوري او يوه رمه به شي او شپون به يې هم يو وي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ پلار زما سره مينه کوي ځکه چې زه خپل ځان قربانوم د دې
دپاره چې هغه بيا وموم. ١٨ هېڅوک زما نه زما ژوند نه اخلي،
بلکې په خپله خوښه يې قرباني کوم. دا زما اختيار دی چې ځان
قربان کړم او دا واک او اختيار لرم چې هغه بېرته لاسته راوړم. دا هغه
څه دي چې پلار مې راته حکم کړی چې ويې کړم.»

١٩ د عيسی په دې خبرو يوځل بيا د يهوديانو ترمنځ اختلاف پيدا
شو. ٢٠ په هغو کې ډېرو وويل: «هغه پېرانو نيولی دی او لېونی
دی. ولې د هغه خبرو ته غوږ نيسئ؟» ٢١ خو نورو به ويل:
«څوک چې پېريانو نيولی وي هغه داسې خبرې نه شي کولای. ايا
پېری کولای شي چې ړانده بينا کړي؟»

## يهوديان عيسی نه مني

٢٢ دا د ژمي وخت ؤ او په اورشليم کې د خدای د کور د وقف
کېدلو اختر ؤ. ٢٣ عيسی د خدای د کور په يوځای کې چې د
سليمان د برنډې په نوم يادېده، ګرځېده. ٢۴ خلک د هغه نه
ګردچاپېره راټول شول او ورته ويې ويل: «ترڅو پورې به مونږ
پرېږدې چې شکمن واوسو؟ که چېرې ته مسيح يې نو مونږ ته يې
ښکاره ووايه.» ٢۵ عيسی ځواب ورکړ: «ما تاسو ته وويل خو
تاسو پرې باور نه کوئ. زه چې د خپل پلار په نوم کوم کارونه کوم
هغه زما په هکله شاهدي ورکوي. ٢۶ خو تاسو پرې باور نه کوئ
ځکه چې تاسو زما پسونه نه يئ. ٢٧ زما پسونه زما اواز پېژني او
زه هغوی پېژنم او هغوی ما پسې راځي. ٢٨ زه هغوی ته تلپاتې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوندون ورکوم او هغوی به هېڅکله هم هلاک نه شي او هېڅوک نه
شي کولای چې هغوی په زوره راڅخه بوځي. ۲۹ زما پلار چې
هغه خلک یې ماته راکړي دي هغه د ټولو نه لوی دی او هېڅوک نه
شي کولای چې هغوی زما د پلار نه په زوره بوځي. ۳۰ زه او پلار
یو یو.»

۳۱ خلکو یوځل بیا تیږې راواخیستې چې هغه سنګسار کړي.
۳۲ عیسی هغوی ته وویل: «ما تاسو ته د پلار له خوا ډېرې ښې
معجزې وښودلې. تاسو د هغو نه د کومې یوې په خاطر ما
سنګساروئ؟» ۳۳ هغوی ورته ځواب ورکړ: «مونږ تا د کوم نېک
کار په خاطر نه سنګساروو، بلکې د کفر ویلو په خاطر. ځکه چې ته
یوازې یو انسان یې، خو د خدایۍ دعوه کوې.» ۳۴ عیسی هغوی
ته په ځواب کې وویل: «ایا ستاسو په شریعت کې نه دي لیکل شوي
چې خدای وویل: ‹تاسو خدایان یئ؟› ۳۵ مونږ پوهېږو چې د
خدای کلام نه شي بدلېدلی. نو که چېرې خدای هغه خلک چې د هغه
پیغام ورته رسېدلی دی خدایان بللي دي، ۳۶ نو بیا تاسو ولې په ما
باندې د کفر ویلو تور لګوئ چې کله وایم چې زه د خدای زوی یم؟
لکه څنګه چې پلار زه وقف کړی یم او نړۍ ته یې رالېږلی یم. ۳۷
که چېرې زه د خپل پلار کارونه نه کوم نو په ما باندې ایمان مه
راوړئ. ۳۸ خو که چېرې زه هغه کارونه کوم چې پلار یې کوي،
که بیاهم په ما باندې ایمان نه راوړئ نو لږ تر لږه زما په کارونو
باندې خو ایمان راوړئ. بیا تاسو دا ومنئ او په دې پوه شئ چې پلار
په ما کې دی او زه په پلار کې یم.» ۳۹ هغوی یوځل بیا هڅه وکړه
چې عیسی ونیسي، خو هغه د هغوی له نظره پناه شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۰ بیا عیسی د اردن د دریاب بلې غاړې ته پورې وت او هغه
ځای ته لاړ چې مخکې یحیی په کې د تعمید غسل ورکاوه او هلته
پاتې شو. ۴۱ ډېر خلک ورته راغلل او هغوی وویل: «یحیی
هېڅکله کومه نښه ونه ښودله، خو هغه چې هرڅه د دې سړي په
هکله ویلي وو هغه رښتیا ؤ.» ۴۲ او په هغه ځای کې ډېرو خلکو
په عیسی باندې ایمان راوړ.

## د ایلعازر مړینه

**۱۱** ۱ د ایلعازر په نوم یو سړی ؤ چې ناروغه ؤ. د هغه کور
په بیت عنیا کې ؤ، یعنې په هغه کلي کې چې مریم او د هغې خور
مرتا اوسېدله. ۲ دا به هغه مریم وي چې د عیسی په پښو باندې
به عطر اچوي او د هغه پښې په خپلو ویښتانو وچوي. د هغې ورور
ایلعازر ناروغه ؤ. ۳ نو خویندو یې عیسی ته خبر ورولېږه او
ورته ویې ویل: «استاذه، ستا ګران دوست ناروغه دی.» ۴ کله
چې عیسی دا واورېدل نو ویې ویل: «ایلعازر به د دې ناروغۍ څخه
نه مړ کیږي، بلکې دا د خدای د جلال ښکاره کولو دپاره یوه وسیله
ده ترڅو د خدای زوی هم له دې لارې جلال ومومي.»

۵ په عیسی باندې مرتا، د هغې خور او ایلعازر ګران وو. ۶
سره له دې چې هغه د ایلعازر د ناروغۍ نه خبر شو، خو دوه ورځې
نور هم په هغه ځای کې چې ؤ، هلته پاتې شو. ۷ بیا هغه خپلو
شاګردانو ته وویل: «راځئ چې بېرته یهودیې ته لاړ شو.» ۸
شاګردانو ورته وویل: «ای استاذه، لږه موده مخکې د هغه ځای خلکو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غوښتل تا سنګسار کړي، خو ته بیاهم غواړې چې هلته لاړ شې؟»
٩ عیسی ځواب ورکړ: «ایا یوه ورځ دولس ساعته نه ده؟ څوک
چې د ورځې ګرځي نه راغورځیږي، ځکه چې د دې نړۍ رڼا ویني.
١٠ خو که څوک د شپې ګرځي نو غورځیږي، ځکه چې د هغه
سره رڼا نه وي.» ١١ عیسی دا خبرې وکړې او بیا یې هغوی ته
وویل: «زمونږ دوست ایلعازر ویده پروت دی، خو زه ورځم چې
راویښ یې کړم.» ١٢ شاګردانو وویل: «ای استاذه، که هغه ویده
وي نو هغه به راپاڅیږي.» ١٣ خو د عیسی د خبرې مقصد دا ؤ
چې ایلعازر مړ شوی دی، خو هغوی فکر وکړ چې د هغه مقصد
عادي خوب دی. ١٤ نو عیسی هغوی ته ښکاره وویل: «ایلعازر مړ
شوی دی. ١٥ خو زه ستاسو په خاطر خوشحاله یم چې هلته نه
وم، ځکه چې تاسو به اوس په رښتیا ایمان راوړئ. راځئ چې هغه
ته ورشو.»

١٦ توما چې د غبرګوني په نوم هم یادېده، نورو شاګردانو ته وویل:
«راځئ چې مونږ هم لاړ شو او د هغه سره مړه شو.»

## عیسی قیامت او ژوندون دی

١٧ کله چې عیسی هغه ځای ته ورسېده، څلور ورځې کېدلې چې
د ایلعاز مړی په قبر کې ایښودل شوی ؤ. ١٨ بیت عنیا د اورشلیم
نه شاوخوا درې کیلومتره لېرې ؤ ١٩ او د اورشلیم نه د یهودیې
ډېر خلک مرتا او مریم ته راغلي وو چې د هغوی د ورور د مړینې
په خاطر ورته تسلي ورکړي، ٢٠ نو کله چې مرتا د عیسی د راتللو
څخه خبره شوه، د هغه مخې ته ورغله، خو مریم په کور کې پاتې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوه. ۲۱ مرتا عیسی ته وویل: «استاذه، که ته دلته وای، نو زما
ورور به نه وای مړ شوی. ۲۲ خو زه اوس هم په دې پوهېږم چې
که ته د خدای نه هرڅه وغواړې نو خدای به یې درکړي.» ۲۳
عیسی هغې ته وویل: «ستا ورور به بېرته راژوندی شي.» ۲۴ مرتا
وویل: «زه پوهېږم چې هغه به د قیامت په ورځ راژوندی شي.» ۲۵
عیسی هغې ته وویل: «زه قیامت او ژوندون یم. که څوک په ما
باندې ایمان راوړي که هغه مړ هم شي، خو بیا به هم ژوندی وي،
۲۶ او که څوک ژوندی وي او په ما باندې ایمان راوړي، نو هغه به
هېڅکله هم مړ نه شي. ایا په دې باندې باور کوې؟» ۲۷ هغې
وویل: «هو، استاذه! زه په دې ایمان لرم چې ته مسیح یعنې د خدای
زوی یې، د چا په هکله چې خدای ویلي دي چې هغه باید نړۍ ته
راشي.»

## عیسی ژاړي

۲۸ کله چې مرتا دا خبره وکړه نو لاړه او خپلې خور ته یې غږ
وکړ او په پټه یې ورته وویل: «استاذ راغلی دی او تا غواړي.» ۲۹
کله چې مریم دا واورېدل نو زر راپاڅېدله او عیسی ته ورغله. ۳۰
عیسی لا کلي ته رسېدلی نه ؤ او لا په هماغه ځای کې ؤ چې مرتا
یې لیدلو ته ورغلې وه. ۳۱ کوم خلک چې مریم ته د تسلۍ ورکولو
دپاره راغلي وو او د هغې په کور کې وو، نو کله یې چې ولیدل چې
هغه په بیړه له کوره وځي نو هغې پسې روان شول. هغوی فکر کاوه
چې هغه قبر ته روانه ده چې هلته وژاړي.

۳۲ مریم هغه ځای ته ورسېدله چې عیسی په کې ؤ او څنګه یې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغه ولیده، نو پښو ته یې پرېوتله او ویې ویل: «استاذه، که ته
دلته وای نو زما ورور به نه وای مړ شوی.» ۳۳ کله چې عیسی
هغه ولیدله چې ژاړي او همدارنګه کوم خلک چې د هغې سره راغلي
وو هم ژاړي، نو سوړ اوسېلی یې وویست او ډېر خفه شو ۳۴ او د
هغوی نه یې پوښتنه وکړه: «د هغه قبر چېرته دی؟» هغوی ځواب
ورکړ: «ښاغلیه، راشه او ویې ګوره.» ۳۵ عیسی په ژړا شو. ۳۶
بیا خلکو وویل: «وګورئ هغه ورباندې څومره ګران ؤ.» ۳۷ خو
ځینو یې وویل: «دې سړي چې د هغه ړوند سړي سترګې بینا کړلې،
ایا دا یې نه شو کولای چې ایلعازر یې د مرګ نه بچ کړی وای؟»

## ایلعازر راژوندی کېږي

۳۸ عیسی یوځل بیا سوړ اوسېلی وویست او قبر ته ورغی. دا قبر
یو غار ؤ چې خولې ته یې یوه تیږه ایښودل شوې وه. ۳۹ عیسی
خلکو ته امر وکړ او ویې ویل: «تیږه لېرې کړئ.» مرتا د مړ شوي
سړي خور هغه ته وویل: «استاذه، اوس خو د هغه د مرګ څلور
ورځې شوې دي او بوی به یې کړی وي.» ۴۰ عیسی هغې ته
وویل: «ایا تاته مې نه وو ویلي چې که چېرې ته ایمان ولرې نو د
خدای جلال به ووینې؟» ۴۱ نو خلکو تیږه لېرې کړه. بیا عیسی
پورته اسمان ته وکتل او ویې ویل: «ای پلاره، زه ستا شکر کوم چې
زما دعا دې واورېدله. ۴۲ زه پوهېدم چې ته تل زما دعا اورې،
خو ما دا د دې خلکو په خاطر چې دلته ولاړ دي، وویل ترڅو
هغوی په دې باندې ایمان راوړي چې زه تا رالېږلی یم.» ۴۳ کله
چې عیسی دعا خلاصه کړه نو په لوړ اواز یې چیغه کړه: «ای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ایلعازره، راووځه.» ۴۴ نو هغه مړی چې لاسونه او پښې یې په
کفن کې تاو شوې وې او مخ یې په دستمال کې پټ ؤ، راووت.
عیسی هغوی ته وویل: «هغه راخلاص کړئ او پرېږدئ چې لاړ
شي.»

## د عیسی په خلاف دسیسه

(متي ۲۶: ۱– ۵ او مرقوس ۱۴: ۱– ۲ او لوقا ۲۲: ۱– ۲)

۴۵ نو ډېرو خلکو چې د مریم لیدلو ته راغلي وو، کله چې هغوی
هغه څه چې عیسی وکړل ولیدل نو په هغه باندې یې ایمان راوړ.
۴۶ خو د هغوی څخه ځینې یې فریسیانو ته ورغلل او کوم کارونه
چې عیسی کړي وو هغوی ته یې وویل. ۴۷ بیا فریسیانو او مشرانو
کاهنانو شورا راوغوښتله او ویې ویل: «څه باید وکړو؟ ځکه چې دا
سړی ډېرې معجزې ښکاره کوي. ۴۸ که مونږ هغه پرېږدو چې
همداسې کارونه وکړي نو ټول خلک به ورباندې ایمان راوړي، بیا به
رومیان راشي او زمونږ د خدای کور او زمونږ ټول قوم به له منځه
یوسي.» ۴۹ خو په هغوی کې یو تن چې قیافا نومېده او په هغه
کال لوی کاهن ؤ، وویل: «تاسو نه پوهېږئ! ۵۰ په دې نه پوهېږئ
چې ستاسو دپاره دا ښه دی چې یو کس د ټول قوم په خاطر مړ شي،
نه دا چې ټول قوم تباه شي.» ۵۱ هغه دا خبره له خپله ځانه ونه
کړه، بلکې د دې دپاره چې هغه په هغه کال لوی کاهن ؤ، نو هغه
پېشګویي وکړله چې عیسی به د یهودو د قوم په خاطر مړ شي، ۵۲
او یوازې د هغه قوم دپاره نه، بلکې د خدای ټول خواره واره اولادونه
چې په مختلفو ځایونو کې اوسیږي سره یوځای کړي. ۵۳ نو د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هماغي ورځې نه هغوی د عیسی د وژلو پرېکړه وکړه. ۵۴ له هغې
وروسته عیسی نور د خلکو په منځ کې ښکاره نه ګرځېده، بلکې د
هغه ځای نه یوې سیمې ته چې دښتې ته نژدې وه، یعنې د افرایم په
نوم ښار ته لاړ او د خپلو شاګردانو سره هلته پاتې شو.

۵۵ د یهودیانو د فسحې اختر نژدې ؤ او ډېر خلک د کلیوالي سیمو
نه اورشلیم ته راغلل چې خپل ځانونه پاک کړي. ۵۶ هغوی عیسی
لټاوه او څنګه چې هغوی د خدای په کور کې سره راټول شول نو یو
بل ته یې وویل: «تاسو څه فکر کوئ، ایا هغه به د اختر جشن ته رانه
شي؟» ۵۷ مشرانو کاهنانو او فریسیانو دا حکم کړی ؤ، که هرڅوک
پوه شي چې عیسی چېرته دی نو دوی ته دې خبر ورکړي چې هغه
ونیسي.

(متي ۲۶: ۶ – ۱۳ او مرقوس ۱۴: ۳ – ۹)

## مریم د عیسی په پښو باندې قیمتي عطر اچوي

۱۲ ۱ د فسحې د اختر نه شپږ ورځې مخکې عیسی بیت عنیا
ته چې ایلعازر په کې اوسېده، یعنې هماغه سړی چې هغه د مرګ نه
وروسته بېرته راژوندی کړی ؤ، راغی. ۲ هغوی هلته د عیسی
دپاره د ماښام ډوډۍ تیاره کړې وه. مرتا د هغوی خدمت کاوه او
ایلعازر هم د عیسی سره ډوډۍ ته ناست ؤ. ۳ په دې وخت کې
مریم یو بوتل قیمتي عطر چې نیم لیتر وو او د یو ډول خالصه
خوشبویه ملهمو څخه جوړ شوي وو، راواخیستل او د عیسی په پښو
باندې یې واچول او د هغه پښې یې په خپلو ویښتانو باندې وچې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړلې او ټول کور د عطرو د خوشبويۍ نه ډک شو. ۴ خو يهودا
اسخريوتي چې د عيسی د شاګردانو څخه ؤ او وروسته يې د هغه
سره خيانت وکړ، وويل: ۵ «دا عطر ولې د درېو سوو سپينو زرو
په سکو باندې خرڅ نه شول چې پيسې يې غريبانو ته ورکړل شوې
وای؟» ۶ هغه دا خبره د دې دپاره ونه کړه چې ګنې د هغه سره د
غريبانو غم ؤ، بلکې په دې خاطر چې هغه خپله غل ؤ او څرنګه
چې هغه د پيسو د ساتلو مسووليت په غاړه درلود نو اکثره وخت به
يې يو څه پيسې د خپل ځان دپاره پټولې ۷ عيسی وويل: «د
هغې سره کار مه لرئ، هغې زه د ښخولو دپاره تيار کړم. ۸ ځکه
چې غريبان به تل ستاسو سره وي، خو زه به تل تاسو سره نه يم.»

## د ايلعازر په ضد دسيسه

۹ زيات شمېر خلک خبر شول چې عيسی په بيت عنيا کې دی،
نو هغوی هلته ورغلل. يوازې د دې دپاره نه چې عيسی ووينې بلکې
ايلعازر چې عيسی راژوندی کړی ؤ، هم ووينې. ۱۰ نو مشرانو
کاهنانو پرېکړه وکړه چې ايلعازر هم ووژنې، ۱۱ ځکه چې د هغه
له امله ډېرو خلکو هغوی پرېښودل او په عيسی باندې يې ايمان
راوړ.

## په برياليتوب سره اورشليم ته د عيسی ننوتل

(متي ۲۱: ۱ – ۱۱ او مرقوس ۱۱: ۱ – ۱۱ او لوقا ۱۹: ۲۸ – ۴۰)

۱۲ په بله ورځ ګڼ شمېر خلک چې د اختر دپاره راغلي وو، خبر
شول چې عيسی اورشليم ته راروان دی. ۱۳ نو هغوی د خرما د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ونو ښانګې واخيستلې او د هغه مخې ته ورووتل او چيغې يې وهلې:
«ژوندی دې وي! مبارک دی وي هغه څوک چې د څښتن په نوم
راځي! مبارک دې وي د اسراييلو پاچا!» ۱۴ عيسی يو کوتی پيدا
کړ او په هغه باندې سپور شو، لکه څنګه چې د خدای په کلام کې
ليکل شوي دي:

۱۵ «ای د صهيون خلکو، نور مه ويرېږئ!

ګوره، ستا پاچا دی راروان

هغه سپور دی په کوتي باندې.»

۱۶ په اوله کې شاګردان د دې شيانو په معنی باندې پوه نه شول،
خو کله چې عيسی خپل جلال ته ورسېده، نو هغوی ته ور په ياد
شول چې دا شيان د هغه په هکله ليکل شوي وو او د هغه سره
همداسې وشول.

۱۷ کله چې عيسی ايلعازر ته غږ وکړ او هغه يې راژوندی کړ او د
قبر څخه يې راوويست نو زيات شمېر خلک هلته موجود وو. هغوی
چې څه ليدلي او اورېدلي وو د هغې په هکله يې نورو خلکو ته
شاهدي ورکوله. ۱۸ نو ګڼ شمېر خلک د هغه هرکلي ته ورغلل،
ځکه چې هغوی اورېدلي وو چې عيسی دا معجزه ښودلې وه. ۱۹
نو بيا فريسيانو يو بل ته سره وويل: «تاسو ګورئ چې مونږ هېڅ نه
شو کولای، ټوله نړی هغه پسې روانه ده.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ځينې يونانيان غواړي چې د عيسی سره خبرې وکړي

٢٠ په اختر کې چې د عبادت دپاره اورشليم ته کوم خلک راغلي
وو په هغوی کې ځينې يونانيان هم وو. ٢١ هغوی فيليپوس ته چې
د جليل د بيت صيدا ؤ، راغلل او ورته وېې ويل: «ای ښاغليه، مونږ
غواړو چې عيسی ووينو.» ٢٢ فيليپوس لاړ او اندرياس ته يې
وويل او هغوی دواړه لاړل چې عيسی خبر کړي. ٢٣ عيسی هغوی
ته ووېل: «اوس هغه وخت رارسېدلی دی چې د انسان زوی جلال
ومومي. ٢٤ په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې که د غنمو يوه
دانه په خاوره کې ونه لوېږي او له منځه لاړه نه شي، نو هغه به
هماغه يوه دانه پاتې شي. خو که چېرې هغه له منځه لاړه شي نو
ډېرې دانې به راشنې شي. ٢٥ په چا باندې چې په دې نړۍ کې
خپل ځان ګران وي نو هغه به له لاسه ورکړي. خو که څوک په نړۍ
کې د خپل ځان نه تېر شي نو هغه به تل ترتله خپل ژوند وساتي.
٢٦ که څوک غواړي چې زما خدمت وکړي نو هغه دې ما پسې
راځي او چېرته چې زه يم نو زما خدمتګار به هم هلته وي. څوک
چې زما خدمت کوي نو زما پلار به هغه سرلوړی کړي.

## عيسی د خپل مرګ په هکله خبرې کوي

٢٧ اوس زما زړه ناارامه دی او نه پوهېږم چې څه ووايم. ايا
ووايم: ‹ای پلاره، ما د دې کړاو او ځورېدنې د ساعت نه وساته؟›
خو زه دې نړۍ ته د دې دپاره راغلی يم چې وکړېږم. ٢٨ ای
پلاره، خپل نوم ته جلال ورکړه!» هغه وخت د اسمان نه يو اواز

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راغی او ویې ویل: «ما جلال ورکړی دی او بیا به هم جلال ورکړم.»
٢٩ کوم خلک چې په هغه ځای کې ولاړ وو او دا اواز یې واورېد
نو ځینو یې وویل: «دا د تندر اواز ؤ.» خو نورو وویل: «فرښتې د
هغه سره خبرې وکړې.» ٣٠ خو عیسی هغوی ته وویل: «دا اواز
زما په خاطر نه، بلکې ستاسو په خاطر ؤ. ٣١ اوس د دې وخت
رارسېدلی چې خدای به د نړۍ د خلکو په هکله قضاوت کوي او د
دې نړۍ واکمن یعنې شیطان به شړل کیږي. ٣٢ کله چې زه د
ځمکې نه پورته وخېژول شم نو ټول انسانان به خپل ځان ته
راکاږم.» ٣٣ د عیسی د خبرې اشاره دې ته وه چې هغه به په څه
قسم مرګ مړ کیږي.

٣٤ خلکو عیسی ته وویل: «زمونږ شریعت وایي چې مسیح به تل
ترتله ژوندی وي. نو بیا ته څنګه ویلی شې چې د انسان زوی باید
پورته وخېژول شي؟ دا د انسان زوی څوک دی؟» ٣٥ عیسی
هغوی ته وویل: «ستاسو سره د لږ نور وخت دپاره رڼا شته. ترڅو
پورې چې دا رڼا ستاسو سره ده نو تاسو ګرځئ، هسې نه چې تیاره
درباندې راشي. څکه څوک چې په تیاره کې ګرځي هغه نه پوهیږي
چې چېرته روان دی. ٣٦ تر هغې پورې چې رڼا درسره ده نو په
رڼا باندې ایمان راوړئ د دې دپاره چې تاسو د رڼا بچیان شئ.»

کله چې عیسی خپلې خبرې پای ته ورسولې نو لاړ او د هغوی نه
پټ شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## ډېرو خلکو په عیسی باندې ایمان رانه وړ

۳۷ سره له دې چې عیسی د هغوی په مخکې ډېرې معجزې
وښودلې خو هغوی په هغه باندې ایمان رانه وړ، ۳۸ ترڅو د اشعیا
پیغمبر هغه خبرې رښتیا شي چې ویلي یې وو:

«ای څښتنه، چا زمونږ په پیغام باندې باور کړی دی؟

چاته څښتن خپل قدرت ښودلی دی؟»

۳۹ نو هغوی ونه شو کولای چې ایمان راوړي. اشعیا پیغمبر هم
ویلي دي:

۴۰ «خدای د هغوی سترګې ړندې کړې دي،

او د هغوی زړونه یې سخت کړي دي،

چې په سترګو باندې څه ونه ویني

او په زړونو کې ورباندې پوه نه شي

او ماته را ونه ګرځي

چې زه یې روغ کړم.»

۴۱ اشعیا دا د دې دپاره وویل چې د عیسی جلال یې ولید او د
هغه په هکله یې خبرې وکړې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۲ سره له دې بیاهم ډېرو یهودي مشرانو په هغه باندې ایمان
راوړ، خو د فریسیانو له وېرې یې د خپل ایمان راوړلو اقرار نه کاوه،
هسې نه چې د کنیسې څخه یې وشړي، ۴۳ ځکه چې هغوی د
خدای له خوا د ستاینې په ځای د انسان ستاینه زیاته خوښوله.

## د عیسی د کلام په وسیله قضاوت

۴۴ نو عیسی په لوړ اواز وویل: «هرڅوک چې په ما باندې ایمان
راوړي، نو هغه نه یوازې دا چې په ما باندې یې ایمان راوړی بلکې
په هغه چا باندې یې هم راوړی دی چې زه یم رالیږلی یم. ۴۵
هرڅوک چې ماویني نو هغه څوک هم ویني چې زه یې رالیږلی یم.
۴۶ زه نړۍ ته لکه د یوې رڼا په شان راغلی یم د دې دپاره چې
هرڅوک چې په ما باندې ایمان راوړي هغه په تیاره کې پاتې نه شي.
۴۷ خو که چېرې څوک زما خبرې واوري او عملورباندې ونه
کړي، نو زه هغه نه محکوموم. زه نړۍ ته د دې دپاره راغلی یم چې
خلک وژغورم، د دې دپاره نه یم راغلی چې هغوی محکوم کړم.
۴۸ هرڅوک چې ما رد کړي او زما خبرې ونه مني نو د هغه دپاره
قاضي شته، یعنې هغه تعلیم چې ما ورکړئ دی هغه به د اخرت په
ورځ ملامته کړي. ۴۹ ځکه چې زه له خپله ځانه خبرې نه کوم
بلکې هغه پلار چې زه یې رالیږلی یم ماته دا حکم کړی دی چې څه
ووایم او څنګه خبرې وکړم. ۵۰ زه پوهېږم چې د هغه حکم خلکو
ته تلپاتې ژوندون ورکوي. نو ځکه زه چې څه وایم هماغه څه دي
چې پلار راته ویلي دي چې ویې وایم.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی د خپلو شاګردانو پښې وینځي

۱۳ ۱ د فسحې د اختر نه یوه ورځ مخکې ؤ او عیسی په دې
پوه شو چې هغه وخت راورسېد چې د دې نړۍ نه لاړ شي او پلار
ته ورشي. هغه تل په دې نړۍ کې او تر اخره پورې د خپلو پیروانو
سره مینه وکړله. ۲ د ماښام د ډوډۍ وخت ؤ او شیطان له مخکې
نه د شمعون اسخریوتي د زوی یهودا په زړه کې دا فکر اچولی ؤ چې
د عیسی سره خیانت وکړي. ۳ عیسی په دې پوهېده چې پلار
ورته د ټولو شیانو اختیار ورکړی دی او هغه د خدای له خوا راغلی
دی او بېرته خدای ته ورځي. ۴ نو هغه د ډوډۍ نه راپاڅېده،
خپله چپنه یې لیرې کړله او یو دستمال یې راواخیست او د خپلې ملا
نه یې راتاو کړ. ۵ بیا یې په لګن کې اوبه واچولې او د خپلو
شاګردانو د پښو په وینځلو یې شروع وکړه او هغه یې په هغه دستمال
باندې چې د خپلې ملا نه یې تاو کړی ؤ، وچولې. ۶ هغه شمعون
پطروس ته ورغی نو پطروس هغه ته ووېل: «ای څښتنه، ایا ته
غواړې چې زما پښې ووینځې؟» ۷ عیسی په ځواب کې ووېل:
«ته اوس نه پوهېږې چې زه څه کوم، خو وروسته به پوه شې.» ۸
پطروس ورته ووېل: «ته به هېڅکله هم زما پښې نه وینځې.» عیسی
ووېل: «که زه ستا پښې ونه وینځم نو ته به نور زما سره ملګرتیا ونه
لرې.» ۹ شمعون پطروس ووېل: «بیا نو څښتنه، یوازې پښې مې
نه بلکې لاسونه او سر مې هم ووینځه.» ۱۰ عیسی ورته ووېل:
«چا چې ځان وینځلی وي نو هغه بیخي پاک وي او وینځلو ته اړتیا
نه لرې، یوازې پښې یې باید ووینځل شي. تاسو ټول پاک یئ، خو په
تاسو کې یو کس پاک نه دی.» ۱۱ ځکه چې عیسی ته معلومه وه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې څوک به ورسره خيانت کوي، نو ځکه يې وويل: «تاسو ټول
پاک يئ پرته د يو کس نه.»

۱۲ کله چې عيسى د هغوى پښې ووينځلې، نو خپله چپنه يې بېرته
واغوستله او بېرته دسترخوان ته کښېناست او د هغوى نه يې پوښتنه
وکړه: «ما چې ستاسو دپاره څه وکړل ايا تاسو د هغې په معنى باندې
پوه شوئ؟ ۱۳ تاسو ماته استاذ او بادار وايئ او تاسو ښه کوئ چې
داسې وايئ، ځکه چې زه همداسې يم. ۱۴ نو که چېرې زه چې
ستاسو بادار او استاذ يم ستاسو پښې ووينځلې، نو تاسو هم بايد د يو
بل پښې ووينځئ. ۱۵ ما تاسو ته يو مثال درکړ ترڅو تاسو د يو بل
سره همداسې وکړئ لکه څنګه چې ما ستاسو دپاره وکړل. ۱۶ په
يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې هېڅ يو نوکر د خپل بادار څخه
لوى نه دى او هېڅ يو استازى د خپل رالېږونکي څخه لوى نه دى.
۱۷ اوس چې تاسو په دې شيانو باندې پوه شوئ، نو که عمل
ورباندې وکړئ نو تاسو بختور يئ.

۱۸ زه ستاسو ټولو په هکله خبرې نه کوم، کوم خلک چې ما غوره
کړي دي زه هغوى پېژنم. خو د خداى د کلام دا وينا بايد رښتيا شي
چې وايي: ‹هغه چا چې زما سره يې ډوډۍ خوړله زما په ضد
راپورته شو.› ۱۹ اوس زه تاسو ته د هغې پېښې د رامنځته کېدلو نه
مخکې وايم، د دې دپاره کله چې هغه وشي نو تاسو به په دې ايمان
راوړئ چې زه هماغه يم. ۲۰ په يقين سره زه تاسو ته دا وايم
څوک چې هغه کس قبول کړي چې زه يې لېږم، نو زه يې قبول کړى
يم او هرڅوک چې ما قبول کړي، نو هغه څوک يې قبول کړى چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زه يې رالېږلی يم.»

## عيسی دا پېشګويي کوي چې هغه به دښمنانو ته په لاس ورکړل شي

(متي ۲۶: ۲۰ – ۲۵ او مرقوس ۱۴: ۱۷ – ۲۱ او لوقا ۲۲: ۲۱ – ۲۳)

۲۱ کله چې عيسی دا خبرې وکړې نو د هغه روح ناارامه شو او په
ښکاره يې وويل: «په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې په تاسو کې
به يو کس زما سره خيانت وکړي.» ۲۲ شاګردانو يو بل ته وکتل او
شکمن شول چې هغه د چا په هکله خبرې کوي. ۲۳ په شاګردانو
کې يو يې چې په عيسی باندې ډېر ګران ؤ د هغه په څنګ کې ناست
ؤ. ۲۴ شمعون پطروس هغه شاګرد ته اشاره وکړه او ورته ويې
ويل: «د عيسی نه پوښتنه وکړه چې هغه د چا په هکله خبرې کوي.»
۲۵ نو هغه شاګرد عيسی ته ورنژدې شو او پوښتنه يې ترې وکړه:
«استاذه، هغه څوک دی؟» ۲۶ عيسی ځواب ورکړ: «دا هغه سړی
دی چې زه لږه ډوډۍ په کاسه کې لمدوم او ورته يې ورکوم.» نو هغه
د لږه ډوډۍ په کاسه کې لمده کړه او د شمعون اسخريوتي زوی يهودا
ته يې ورکړه. ۲۷ څنګه چې يهودا هغه لږه ډوډۍ واخيستله نو
شيطان يې وجود ته ورننوت. عيسی ورته وويل: «هرڅه چې کوې
زر يې وکړه.» ۲۸ کوم خلک چې ډوډۍ ته ناست وو د هغوی
څخه هېڅوک پوه نه شو چې د دې خبرې نه د هغه مقصد څه ؤ.
۲۹ څرنګه چې يهودا سره د پيسو ساتلو کڅوړه وه، نو ځينو
شاګردانو دا ګومان وکړ چې عيسی هغه ته وويل چې لاړ شي او د
اختر دپاره چې کوم څه په کار دي واخلي او يا غريبانو ته کوم څه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړي. ۳۰ څنګه چې یهودا هغه لږه ډوډۍ واخیستله نو سمدلاسه
دباندې ووت. دا شپه وه.

## نوی حکم

۳۱ کله چې یهودا لاړ نو عیسی وویل: «اوس به د خدای زوی
جلال ومومي او د هغه په وسیله به خدای جلال مومي. ۳۲ څرنګه
چې خدای د هغه په وسیله جلال مومي نو خدای به په خپله هم هغه
ته جلال ورکړي او ډېر زر به ورته جلال ورکړي. ۳۳ زما بچیانو!
زه به د لږ نور وخت دپاره ستاسو سره یم. بیا به ما پسې ګرځئ او
پیدا کولای به مې نه شئ او لکه څنګه چې مې یهودي مشرانو ته
وویل، اوس یې تاسو ته هم وایم، زه چې چېرته ځم هلته تاسو نه
شئ تللی. ۳۴ زه تاسو ته نوی حکم درکوم: د یو بل سره مینه
کوئ، لکه څنګه چې ما ستاسو سره کړې ده، نو تاسو هم باید د یو
بل سره مینه وکړئ. ۳۵ که تاسو یو د بل سره مینه ولرئ نو بیا به
ټول په دې پوه شي چې تاسو زما شاګردان یئ.»

## عیسی د پطروس د منکرېدلو پیشګویي کوي

۳۶ شمعون پطروس د هغه نه پوښتنه وکړه: «استاذه، ته چېرته
ځې؟» عیسی ځواب ورکړ: «زه چې کوم ځای ته ځم ته اوس هلته
ما پسې نه شې راتللی، خو وروسته به راشې.» ۳۷ پطروس وویل:
«استاذه، اوس درپسې ولې نه شم درتلی؟ زه دې ته حاضر یم چې
ستا په خاطر خپل ځان قربان کړم.» ۳۸ عیسی ځواب ورکړ: «ایا
ته حاضر یې چې زما په خاطر مړ شې؟ په یقین سره زه تاته دا وایم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د چرګ د اذان نه مخکې به درې ځلې ووايې چې ته ما نه
پېژنې.»

## عيسی پلار ته د ورتګ لاره ده

١۴ ١ عيسی خپلو شاګردانو ته ووېل: «خپل زړونه مه ناارامه
کوئ. په خدای باندې ايمان ولرئ او په ما باندې هم ايمان ولرئ.
٢ زما د پلار په کور کې ډېرې کوټې دي. که داسې نه وای نو ما
به تاسو ته ويلي نه وای چې زه ځم چې ستاسو دپاره ځای تيار کړم.
٣ کله چې زه لاړم او تاسو دپاره مې ځای تيار کړ، نو بېرته راځم
او تاسو د ځان سره وړم، ترڅو په کوم ځای کې چې زه يم هلته به
تاسو هم يئ. ۴ تاسو پوهېږئ زه چې چېرته ځم هغه لاره درته
معلومه ده.» ۵ توما ووېل: «څښتنه، مونږ نه پوهېږو چې ته
چېرته ځې، نو لاره به څنګه وپېژنو؟» ۶ عيسی ځواب ورکړ: «زه
لاره يم، زه حقيقت يم او زه ژوندون يم. هېڅوک نه شي کولای پرته
له زما په وسيله پلار ته ورشي. ٧ که چېرې تاسو زه پېژندلی نو
زما پلار به مو هم پېژانده. نو دې نه وروسته تاسو هغه پېژنئ او هغه
مو ليدلی دی. څرنګه چې تاسو زه وپېژندلم نو زما پلار به هم وپېژنئ
او هغه مو ليدلی دی.»

٨ د عيسی بل شاګرد فيليپوس هغه ته ووېل: «استاذه، مونږ ته
پلار وښايه نو زمونږ قناعت به حاصل شي.» ٩ عيسی هغه ته
ووېل: «ای فيليپوسه، دومره موده زه ستاسو سره وم خو بياهم ما نه
پېژنې؟ هر چا چې زه ليدلی يم نو پلار يې هم ليدلی دی. نو بيا ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څنګه وايې چې مونږ ته پلار وښايه؟ ۱۰ ايا په دې باندې باور نه
لرې چې زه په پلار کې يم او پلار په ما کې دی؟ زه چې تاسو ته
کومې خبرې کوم هغه د خپل ځانه نه کوم، بلکې زما پلار چې په ما
کې دی زما په وسيله خپل کارونه کوي. ۱۱ کله چې زه وايم چې
زه په پلار کې يم او پلار په ما کې دی، نو په دې باندې باور وکړئ.
که زما په خبرو باندې باور نه کوئ نو کوم کارونه چې ما کړي دي د
هغو دپاره باور وکړئ. ۱۲ په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې
هرڅوک چې په ما باندې ايمان راوړي، نو کوم کارونه چې ما کړي
دي، هغه به يې هم وکړي او له دې نه به هم لوی لوی کارونه وکړي،
ځکه چې زه خپل پلار ته ورځم. ۱۳ او تاسو چې هرڅه زما په
نوم وغواړئ زه به هغه کوم، ترڅو د پلار جلال د زوی په وسيله
ښکاره شي. ۱۴ که چېرې تاسو کوم څه زما په نوم زما نه وغواړئ
نو زه به يې سرته رسوم.

## د روح القدس ورکولو وعده

۱۵ که چېرې تاسو زما سره مينه کوئ نو زما په حکمونو باندې به
عمل کوئ ۱۶ او زه به د پلار نه غوښتنه وکړم او هغه به تاسو ته
يو بل مرسته کوونکی درولېږي چې تل ترتله به ستاسو سره وي،
۱۷ يعنې د حقيقت روح چې د نړۍ خلک يې نه شي قبلولی، ځکه
چې هغه نهويني او نه يې پېژني. خو تاسو يې پېژنئ، ځکه چې هغه
تاسو سره اوسي او په تاسو کې وي. ۱۸ زه به تاسو لکه د يتيمانو
په شان پرېنږدم، زه بېرته تاسو ته راځم. ۱۹ لږ وخت وروسته به د
نړۍ خلک نور ما ونه ويني خو تاسو به مې بيا وينئ. ځکه چې زه به

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راژوندی کیږم نو تاسو به هم ژوندي یئ. ۲۰ کله چې هغه ورځ
راشي نو تاسو به پوه شئ چې زه په پلار کې یم، تاسو په ما کې یئ
او زه په تاسو کې یم.

۲۱ هرڅوک چې زما حکمونه ومني او عمل وربانديې کوي نو دا
هغه څوک دی چې زما سره مینه کوي. څوک چې زما سره مینه کوي
نو زما پلار به ورسره مینه وکړي، او زه به هم د هغه سره مینه وکړم
او خپل ځان به ورته ښکاره کړم.» ۲۲ یهودا چې اسخریوتي یهودا
نه ؤ، هغه ته وویل: «استاذه، ته ولې غواړې چې خپل ځان دې
یوازې مونږ ته ښکاره کړې او د نړۍ خلکو ته نه؟» ۲۳ عیسی په
ځواب کې وویل: «هرڅوک چې زما سره مینه کوي نو هغه به زما په
تعلیم باندې عمل کوي. زما پلار به د هغه سره مینه کوي او زه او
پلار به هغه ته ورځو او د هغه سره به اوسیږو. ۲۴ خو څوک چې
زما سره مینه نه کوي هغه زما په تعلیم باندې عمل نه کوي. کوم تعلیم
چې تاسو یې اورئ هغه زما تعلیم نه دی بلکې زما د پلار تعلیم دی
چې زه یې رالیږلی یم.

۲۵ تر هغې پورې چې زه ستاسو سره یم دا خبرې درته کوم. ۲۶
خو ستاسو مرسته کوونکی یعنې روح القدس چې پلار به یې زما په
نوم راولیږي، هغه به ټول شیان تاسو ته درزده کړي او هرڅه چې ما
درته ویلي دي هغه به در په یاد کړي.

۲۷ زه تاسو ته سوله درکوم داسې سوله چې یوازې زه یې
ورکولای شم. دا د هغې سولې په شان نه ده چې نړۍ یې ورکولای
شي. نو څه چې به پیښیږي د هغې په هکله مه ناآرامه کیږئ او مه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وېرېږئ. ۲۸ تاسو واورېدل چې ما وويل زه ځم خو بېرته تاسو ته
راځم. که چېرې تاسو زما سره مينه کولای نو د دې خبرې په
اورېدلو سره چې زه پلار ته ورځم، تاسو به خوشحاله شوي وای،
ځکه چې پلار زما نه ډېر لوی دی. ۲۹ مخکې له دې چې دا کار
وشي تاسو ته مې وويل نو کله چې دا کار وشي، تاسو به ايمان
راوړئ. ۳۰ زه نور زيات وخت نه لرم چې ستاسو سره خبرې
وکړم، ځکه چې د دې نړۍ واکمن راروان دی. هغه په ما باندې هېڅ
واک او اختيار ونه لري، ۳۱ خو نړۍ بايد په دې پوه شي چې زه د
پلار سره مينه کوم، نو هماغه کار کوم چې هغه يې راته حکم کوي.
اوس راځئ چې د دې ځای نه لاړ شو.

## عيسی د انګورو اصلي تاک دی

۱۵ ۱ زه د انګورو اصلي تاک يم او زما پلار باغوان دی. ۲
زما هره څانګه چې مېوه نه نيسي هغه پرې کوي او هره څانګه چې
مېوه نيسي هغه اصلاح کوي، ترڅو ډېره مېوه ونيسي. ۳ تاسو لا د
مخکې نه په هغه تعليم باندې چې درکړی مې دی، پاک شوي يئ.
۴ په ما کې پاتې شئ لکه څنګه چې زه په تاسو کې پاتې کېږم.
لکه څنګه چې يوه څانګه په خپله مېوه نه شي نيولی ترڅو هغه په
تاک کې پاتې نه وي، تاسو هم مېوه نه شئ نيولی ترڅو چې په ما کې
پاتې نه شئ.

۵ زه د انګورو تاک يم او تاسو څانګې يئ. هرڅوک چې په ما
کې پاتې شي او زه په هغه کې پاتې شم نو هغه به ډېره مېوه ونيسي،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې تاسو بې له ما هېڅ نه شئ کولای. ۶ که چېرې څوک
په ما کې پاتې نه شي هغه به لکه بېکاره څانګه لېرې وغورځول شي
او وچ به شي. هغه څانګې راټولېږي، په اور کې اچول کيږي ترڅو
وسوځي ۷ که چېرې تاسو په ما کې پاتې شئ او زما خبرې په
تاسو کې پاتې شي، نو هرڅه چې غواړئ د هغو دپاره سوال وکړئ او
هغه به درکړل شي. ۸ زما د پلار جلال په دې کې دی چې تاسو
ډېره مېوه ونيسئ او دا ثابته کړئ چې زما شاګردان يئ. ۹ لکه
څنګه چې پلار زما سره مينه کړې ده ما هم ستاسو سره مينه کړې
ده. نو زما په مينه کې پاتې شئ. ۱۰ که چېرې تاسو زما په
حکمونو باندې عمل وکړئ نو زه به تاسو سره مينه کوم لکه څنګه
چې ما د خپل پلار په حکمونو باندې عمل کړی دی او هغه زما په
مينه کې پاتې دی. ۱۱ ما دا شيان تاسو ته ووېل ترڅو ستاسو
زړونه زما د خوشحالۍ نه ډک شي او ستاسو خوشحالي پوره شي.

۱۲ زما حکم دا دی: د يو بل سره مينه کوئ لکه څنګه چې ما
تاسو سره مينه کړې ده. ۱۳ د دې نه نوره زياته مينه نشته چې يو
سړی دې د خپلو ملګرو په خاطر خپل ځان قربان کړي. ۱۴ که
چېرې تاسو زما په حکمونو باندې عمل وکړئ نو بيا به تاسو زما
ملګري يئ. ۱۵ زه نور تاسو ته نوکران نه وايم، ځکه چې نوکران
په دې نه پوهيږي چې بادار يې څه کوي، خو ما تاسو ته ملګري
ويلي دي، ځکه ما چې هرڅه د خپل پلار نه اورېدلي دي هغه مې
تاسو ته ويلي دي. ۱۶ تاسو زه نه يم غوره کړی، بلکې ما تاسو
غوره کړي يئ او دا کار مې درته سپارلی دی چې لاړ شئ او مېوه
ونيسئ، داسې مېوه چې دوامداره وي. نو بيا چې تاسو هرڅه زما په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نوم د پلار نه وغواړئ هغه به تاسو ته درکړي. ١٧ نو زه تاسو ته دا
حکم کوم چې د يو بل سره مينه کوئ.

## د نړۍ خلک به ستاسو نه کرکه کوي

١٨ که چېرې د نړۍ خلک ستاسو نه کرکه کوي، نو پوه شئ چې
ستاسو نه لومړی يې زما نه کرکه کړې ده. ١٩ که چېرې تاسو د
دې نړۍ وای نو تاسو به د دې نړۍ په خلکو باندې ګران وای، خو
ځرنګه چې تاسو د دې نړۍ نه يئ او تاسو مې د دې نړۍ نه غوره
کړي يئ نو له همدې امله نړۍ ستاسو نه کرکه کوي. ٢٠ ما چې
کوم تعليم تاسو ته درکړې وې هغه در په ياد کړئ چې يو نوکر د
خپل بادار نه لوی نه دی. که هغوی زه ځورولی يم نو تاسو به هم
وځوروي. که چېرې هغوی زما په تعليم باندې عمل کړی وي نو
ستاسو په تعليم باندې به يې هم وکړي. ٢١ هغوی به ستاسو سره
زما د نوم په خاطر داسې چلند وکړي، ځکه چا چې زه رالېږلی يم
هغوی هغه نه پېژني. ٢٢ که چېرې زه نه وای راغلی او د هغوی
سره مې خبرې نه وای کړې نو هغوی به ګناهکار نه وای. خو اوس د
هغوی سره د خپلې ګناه دپاره کومه بهانه نشته. ٢٣ څوک چې زما
نه کرکه کوي نو هغه زما د پلار نه هم کرکه کوي. ٢٤ که چېرې ما
د هغوی په منځ کې داسې کارونه چې کوم بل چا هېڅکله کړي نه
دي، نه وای کړي نو هغوی به ګناهکاره نه وای، خو هغوی دا کارونه
ليدلي دي او بياهم هغوی زما او زما د پلار نه کرکه کوي. ٢٥ خو
د هغوی په شريعت کې چې کوم څه ليکل شوي دي هغه بايد رښتيا
شي: ‹هغوی بې له کوم دليله زما نه کرکه کوله.›

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ خو کله چې ستاسو مرسته کوونکی چې زه به يې د پلار له
خوا نه تاسو ته درلیږم، راشي یعنې د حقیقت روح چې د خدای له
خوا راځي، هغه به زما په هکله شاهدي ورکړي. ۲۷ او تاسو به هم
زما په هکله شاهدي ورکوئ، ځکه چې تاسو له پیل نه زما سره وئ.

## ۱۶

۱ ما دا شیان تاسو ته د دې دپاره وویل چې ایمان له
لاسه ورنه کړئ. ۲ هغوی به تاسو د کنیسو نه وشړي او داسې
وخت به راشي چې څوک چې تاسو ووژني نو هغوی ګومان کوي
چې په دې کار سره يې خدای ته خدمت کړی دی. ۳ هغوی به
تاسو سره داسې کارونه کوي، ځکه چې هغوی نه پلار پېژني او نه ما.
۴ دا شیان مې د دې دپاره تاسو ته وویل چې کله د هغوی د واک
وخت راشي نو تاسو ته به زما خبرې در په یادې شي.

### د روح القدس کار

ما دا شیان په اوله کې تاسو ته ونه ویل ځکه زه په خپله تاسو سره
وم، ۵ خو زه اوس هغه چاته ورځم چې زه يې رالیږلی یم او
تاسو یو هم زما نه دا پوښتنه نه کوئ چې ته چیرته ځې؟ ۶ ما
چې تاسو ته کوم څه وویل په هغې باندې ستاسو زړونه غمجن شول.
۷ خو زه تاسو ته حقیقت وایم چې زما تګ ستاسو دپاره ښه دی
ځکه که زه لاړ نه شم نو تاسو ته به مرسته کوونکی رانه شي. خو که
زه لاړ شم نو هغه به تاسو ته درولیږم. ۸ کله چې هغه راشي، نو د
دې نړۍ خلکو ته به د ګناه او د خدای د عدالت او قضاوت په هکله
حقیقت ښکاره کړي. ۹ د نړۍ خلک د ګناه په هکله غلط فکر

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لري ځکه چې هغوی په ما باندې ایمان نه راوړي. ۱۰ هغوی د
عدالت په هکله غلط فکر لري، ځکه چې زه پلار ته ځم او نور به
مې ونه وینئ، ۱۱ هغوی د خدای د قضاوت په هکله هم غلط فکر
لري ځکه چې د دې نړۍ واکمن لا پخوا محکوم کړای شوی دی.

۱۲ ډیرې نورې خبرې دي چې باید تاسو ته یې وکړم خو اوس
یې تاسو د اورېدلو توان نه لرئ. ۱۳ خو کله چې د حقیقت روح
راشي نو تاسو ته به د حقیقت طرف ته بوځي. هغه به له خپله ځانه
خبرې نه کوي بلکې څه چې هغه اوري هغه به وایي او په راتلونکي
کې چې کوم څه کیږي تاسو به ورباندې خبر کړي. ۱۴ هغه چې
زما نه کوم تعلیم تر لاسه کوي نو تاسو به ورباندې خبروي او په دې
ډول به زما جلال ښکاره کوي. ۱۵ د پلار سره چې کوم حکمت
دی هغه زما هم دی، نو په دې خاطر ما وویل زه چې روح القدس ته
کوم تعلیم ورکوم هغه به یې اخلي او تاسو به ورباندې خبروي.»

## ستاسو غم به په خوشحالي بدل شي

۱۶ عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: «د لږ وخت دپاره به تاسو نور
ما نه وینئ، خو لږه موده وروسته به مې بیا ووینئ.» ۱۷ ځینو
شاګردانو یو بل ته سره وویل: «د دې خبرې نه د هغه مطلب څه دی
چې وایي: ‹د لږ وخت دپاره به تاسو ما ونه وینئ خو لږه موده
وروسته به مې ووینئ› او ‹دا ځکه چې زه پلار ته ورځم؟›» ۱۸
هغوی وویل: «د دې لږې مودې نه چې عیسی د هغې په هکله خبرې
کوي مطلب څه دی؟ مونږ نه پوهیږو چې هغه د څه شي په هکله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خبرې کوي.» ۱۹ عیسی پوه شو چې هغوی غواړي په دې هکله
ترې پوښتنه وکړي، نو هغوی ته یې وویل: «ایا تاسو په دې خاطر د
یو بل نه پوښتنه کوئ چې زما د دې خبرې نه مطلب څه دی چې
تاسو به د لږ وخت دپاره نور ما ونه وینئ خو لږه موده وروسته به بیا
ما ووینئ؟ ۲۰ په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې تاسو به ژاړئ
او ویر به کوئ خو نړۍ به خوشحاله وي. تاسو به خفه یئ خو
ستاسو غم به په خوشحالۍ بدل شي. ۲۱ یوه ښځه د ماشوم د
زیږولو په وخت کې ډېر دردونه زغمي، خو کله چې ماشوم پیدا شي
نو هغه خپل دردونه هېروي، ځکه چې هغه خوشحاله وي چې یو
انسان یې نړۍ ته راوړی دی. ۲۲ تاسو هم اوس غمجن یئ خو زه
به بیا تاسو ووینم او زړونه به مو خوشحاله شي او هېڅوک نه شي
کولای چې دا خوشحالي ستاسو نه واخلي. ۲۳ کله چې هغه ورځ
راشي نو تاسو به زما نه هېڅ سوال نه کوئ. په یقین سره زه تاسو ته
دا وایم چې که چیرې تاسو زما په نوم د پلار نه هرڅه وغواړئ نو
تاسو ته به یې درکړي. ۲۴ تر اوسه پورې تاسو زما په نوم هېڅ
شی نه دی غوښتی، وغواړئ نو تاسو ته به درکړل شي، ترڅو ستاسو
خوشحالي پوره شي.

## په نړۍ باندې برې موندل

۲۵ ما تاسو ته په مثالونو کې خبرې کولې، خو داسې وخت به
راشي چې نور به تاسو ته په مثالونو کې خبرې نه کوم، بلکې په
ښکاره توګه به تاسو ته د پلار په هکله خبرې کوم. ۲۶ کله چې
هغه ورځ راشي نو تاسو به زما په نوم هغه ته سوال کوئ او ماته به د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې اړتيا نه وي چې ستاسو په خاطر هغه ته خواست وکړم. ٢٧
ځکه چې خپله پلار باندې تاسو ګران يئ، ځکه چې زه په تاسو
باندې ګران يم او په دې باندې تاسو ايمان راوړی دی چې زه د
خدای له خوا راغلی يم. ٢٨ زه د پلار له خوا دې نړۍ ته راغلی
يم او اوس نړۍ پرېږدم او پلار ته ورځم.»

٢٩ بيا د عيسی شاګردانو ووېل: «ته اوس ښکاره خبرې کوې او د
مثالونو نه کار نه اخلې. ٣٠ اوس موږ پوهېږو چې ته د هرڅه نه
خبر يې او لازمه نه ده چې کوم څوک ستا نه د کوم شي په هکله
پوښتنه وکړي. نو له همدې امله موږ ايمان لرو چې ته د خدای له
خوا راغلی يې.» ٣١ عيسی هغوی ته ووېل: «ايا تاسو اوس په ما
باندې پوره ايمان لرئ؟ ٣٢ ګورئ، هغه وخت راروان دی او بلکې
رارسېدلی دی چې تاسو ټول به خواره واره شئ او خپلو کورونو ته
به لاړ شئ او ما به يوازې پرېږدئ. خو بياهم زه يوازې نه يم، ځکه
چې پلار راسره دی. ٣٣ ما دا هرڅه د دې دپاره تاسو ته ووېل
ترڅو په ما کې ارامي ولرئ. په دې نړۍ کې به تاسو ځورېږئ او
کړېږئ. خو زړور اوسئ! ځکه چې زه په نړۍ باندې بريالی شوی
يم.»

## عيسی د خپلو شاګردانو دپاره دعا کوي

١٧ ١ د دې خبرو نه وروسته عيسی پورته اسمان ته وکتل او
ويې ويل: «پلاره، هغه ساعت رارسېدلی دی. خپل زوی ته جلال
ورکړه ترڅو چې زوی دې هم تاته جلال درکړي، ٢ ځکه چې تا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ته په ټولو انسانانو باندې واک او اختيار ورکړی دی ترڅو هغو
ټولو خلکو ته چې هغه ته دې ورسپارلي دي، تلپاتې ژوندون
ورکړي. ۳ او تلپاتې ژوندون دا دی چې هغوی تا وپېژني چې ته
يوازېنی رښتينی خدای يې او عيسی مسيح چې تا رالېږلی دی،
وپېژني. ۴ ما د هغه کار په سرته رسولو سره چې تا راته
راسپارلی ؤ په دې نړۍ کې تاته جلال درکړ. ۵ ای پلاره! اوس
ماته دې په خپل حضور کې جلال راکړه، هماغه جلال چې د نړۍ د
پيدايښت نه مخکې مې ستا په حضور کې درلود.

۶ ما ستا نوم هغو خلکو ته چې په نړۍ کې دې غوره کړل او
ماته دې راکړل، وروپېژانده. هغوی ستا وو او تا ماته راکړل او هغوی
ستا په کلام باندې عمل کړی دی. ۷ اوس هغوی پوهېږي چې
هرڅه چې تا راکړي دي هغه ستا له خوا دي. ۸ ځکه چې هغه
پيغام چې تا ماته راکړی دی هغه مې هغوی ته رسولی دی او هغوی
قبول کړی دی. هغوی پوهېږي چې دا رښتيا دي چې زه ستا له خوا
راغلی يم او په دې باندې ايمان لري چې زه تا رالېږلی يم.

۹ زه د هغوی دپاره دعا کوم، د نړۍ دپاره يې نه کوم. زه د هغو
خلکو دپاره دعا کوم چې تا راته راکړي دي ځکه چې هغوی ستا
دي. ۱۰ زه چې کوم خلک لرم هغه ستا دي او تا سره چې کوم
خلک دي هغه زما دي او د هغو په وسيله زما جلال څرګند شوی
دی. ۱۱ زه نور په دې نړۍ کې نه پاتې کېږم او هغوی به لا په دې
نړۍ کې پاتې وي او زه تاته درروان يم. ای سپېڅلی پلاره، د خپل
نوم په قدرت سره هغه خلک چې ماته دې راکړي وساته، ترڅو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی سره یو وي لکه څنګه چې مونږ سره یو یو. ۱۲ هغه وخت
چې زه د هغوی سره وم هغوی مې په هغه نوم چې تا راته راکړی ؤ
وساتل او د هغوی نه یو هم هلاک نه شو، بغیر د یو نه چې باید
هلاک شي ترڅو د خدای د کلام وینا رښتیا شي. ۱۳ خو زه اوس
تاته درروان یم او ترڅو پورې چې زه په دې نړۍ کې یم دا خبرې
کوم د دې دپاره چې هغوی په خپلو زړونو کې په پوره توګه داسې
خوشحالي ولري لکه زما خوشحالي. ۱۴ ما ستا کلام هغوی ته
ورساوه خو د نړۍ خلکو د هغه نه کرکه وکړه، ځکه چې هغوی د دې
نړۍ نه دي لکه څنګه چې زه د دې نړۍ نه یم. ۱۵ زه تاته دا دعا
نه کوم چې هغوی د دې نړۍ نه لیرې کړې بلکې دا سوال کوم چې
هغوی د شیطان نه وساتې. ۱۶ لکه څنګه چې زه د دې نړۍ نه یم
نو هغوی هم د دې نړۍ نه دي. ۱۷ هغوی د خپل کلام په وسیله
چې رښتینی کلام دی، وقف کړه چې ستا خدمت وکړي. ۱۸ لکه
څنګه چې تا زه نړۍ ته راولیږلم نو ما هم هغوی نړۍ ته لیږلي دي.
۱۹ ما خپل ځان وقف کړ چې ستا خدمت وکړم، د دې دپاره چې
هغوی هم په پوره توګه ستا خدمت ته وقف شي.

۲۰ زه یوازې د دې شاګردانو دپاره دعا نه کوم بلکې د هغو خلکو
دپاره یې هم کوم چې د دوی د پیغام په وسیله په ما باندې ایمان
راوړي. ۲۱ زه دعا کوم چې هغوی دې سره یو وي. ای پلاره، لکه
څنګه چې ته په ما کې یې نو پرېږده چې هغوی دې هم په مونږ کې
وي، ترڅو د نړۍ خلک په دې باندې ایمان ولري چې زه تا رالیږلی
یم. ۲۲ کوم جلال چې تا ماته راکړی ؤ هغه ما هغوی ته ورکړ
ترڅو هغوی سره یو وي لکه څنګه چې زه او ته سره یو یو. ۲۳ زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هغوی کې اوسېږم او ته په ما کې اوسېږې، ترڅو هغوی په پوره
توګه سره یو وي او د نړۍ خلک په دې پوه شي چې زه تا رالېږلی
یم او هغوی درباندې دومره ګران دي لکه څنګه چې زه درباندې
ګران یم.

٢٤ ای پلاره، کوم خلک چې تا ماته راکړي دي زه غواړم چېرته
چې زه یم هغوی دې هم زما سره وي، ترڅو زما جلال ووېني چې
تا ماته راکړی، ځکه تا د نړۍ د پیدایښت نه مخکې ما سره مینه کړې
ده. ٢٥ ای عادل پلاره! نړۍ ته ونه پېژندلې خو ما پېژندلی یې او
دوی پوهېږي چې تا زه رالېږلی یم. ٢٦ ماته هغوی ته وروپېژندلې
چې ته څوک یې او نور به دې هم وروپېژنم ترڅو هغه مینه چې ته
یې په ما کې لرې په هغوی کې یې هم ولري او زه به په هغوی کې
اوسم.»

## د عیسی سره خیانت او د هغه نیول

(متي ٢٦: ٤٧ – ٥٦ او مرقوس ١٤: ٤٣ – ٥٠ او لوقا ٢٢: ٤٧ – ٥٣)

١٨ ١ کله چې عیسی دعا وکړه نو هغه د خپلو شاګردانو سره
د ښار نه ووت او د قدرون د درې بلې خواته لاړ. هلته یو باغ ؤ چې
عیسی او شاګردان یې ورننوتل. ٢ یهودا خاین ته هغه ځای معلوم
ؤ چې عیسی او شاګردان به یې اکثره وختونه په هغه ځای کې سره
راټولېدل. ٣ یهودا یوه ډله رومي عسکر او د خدای د کور
ساتونکي چې د مشرانو کاهنانو او فریسیانو له خوا رالېږل شوي وو،
د ځان سره واخیستل او باغ ته ورغلل. د هغوی سره لاټینونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوڅراغونه وو او په وسلو باندې سمبال وو. ۴ که څه هم عیسی
په دې پوهېده چې څه به ورته پېښېږي خو بیاهم مخکې ورغی او د
هغوی نه یې پوښتنه وکړه: «تاسو څوک لټوئ؟» ۵ هغوی ځواب
ورکړ: «ناصري عیسی.» عیسی وویل: «هماغه زه یم.» او یهودا
خاین هم هلته د هغوی سره ولاړ ؤ. ۶ کله چې عیسی هغوی ته
وویل: «هماغه زه یم.» هغوی شاته شول او په ځمکه راوغورځېدل.
۷ عیسی یوځل بیا د هغوی نه پوښتنه وکړه: «تاسو څوک لټوئ؟»
هغوی ځواب ورکړ: «ناصري عیسی.» ۸ عیسی وویل: «ما تاسو
ته وویل چې هماغه زه یم. که تاسو ما لټوئ نو دا نور پرېږدئ چې
لاړ شي.» ۹ هغه دا وویل ترڅو هغه څه چې هغه ویلي وو هغه
ربښتیا شي: «ای پلاره، تا چې څوک ماته راسپارلي وو چې پام
ورباندې وکړم د هغو نه مې یو هم له لاسه نه دی ورکړی.» ۱۰ بیا
شمعون پطروس چې توره ورسره وه، هغه یې راوویستله او د لوی
کاهن په نوکر یې چې ملخوس نومېده، ګوزار وکړ او د هغه ښي غوږ
یې پرې کړ. ۱۱ عیسی پطروس ته وویل: «خپله توره دې بېرته په
خپل ځای کې کېږده. ایا د مصیبت هغه پیاله چې پلار راته راکړې ده
ونه څښم؟»

## عیسی د حناس په مخکې

۱۲ رومي عسکرو د خپل قوماندان او د یهودي ساتونکو سره
عیسی ونیوه او کلک یې وتړلو. ۱۳ هغه یې لومړی حناس ته چې
د قیافا خسر ؤ او په هغه کال کې لوی کاهن ؤ، بوته. ۱۴ قیافا
هماغه سړی ؤ چې یهودیانو مشرانو ته یې مشوره ورکړې وه چې په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي کې به د هغوی خير وي چې يو کس د ټول قوم په خاطر مړ
شي.

## پطروس د عيسی څخه انکار کوي

(متي ۲۶: ۶۹ – ۷۰ او مرقوس ۱۴: ۶۶ – ۶۸ او لوقا ۲۲: ۵۵ – ۵۷)

۱۵ شمعون پطروس او يو بل شاګرد د لوی کاهن د کور تر حوېلۍ
پورې عيسی پسې روان وو. څرنګه چې هغه شاګرد د لوی کاهن سره
آشنايي لرله، نو هغه د عيسی سره د لوی کاهن د کور حوېلۍ ته
ورننوت. ۱۶ خو پطروس دباندې په دروازه کې ودرېده. بيا هغه بل
شاګرد چې د لوی کاهن سره يې آشنايي لرله بېرته راووت او د هغې
ښځې سره يې چې د دروازې ساتونکې وه خبرې وکړې او پطروس
يې دننه بوته. ۱۷ هغې چوکيدارې ښځې د پطروس نه پوښتنه وکړه:
«ايا ته هم د دې سړي د شاګردانو څخه نه يې؟» پطروس ځواب
ورکړ: «نه، زه نه يم.» ۱۸ نوکرانو او ساتونکو د سکرو اور بل کړی
ؤ او ګردچاپېره ترې ولاړ وو او ځانونه يې تودول ځکه چې هوا سړه
وه. پطروس هم د هغوی په څنګ کې ولاړ ؤ او ځان يې توداوه.

## لوی کاهن د عيسی نه څېړنې کوي

(متي ۲۶: ۵۹ – ۶۶ او مرقوس ۱۴: ۵۵ – ۶۴ او لوقا ۲۲: ۶۶ – ۷۱)

۱۹ لوی کاهن د عيسی نه د هغه د شاګردانو او د هغه د تعليم په
هکله پوښتنه وکړه. ۲۰ عيسی ځواب ورکړ: «ما د ټولو په مخکې
ښکاره خبرې کړې دي. ما تل په کنيسو او د خدای په کور کې چې
خلک په کې راټولېږي تعليم ورکړی دی او هېڅکله مې پټې خبرې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه دي کړي. ۲۱ نو بیا ولې زما نه پوښتنه کوې؟ د هغو خلکو نه
پوښتنه وکړه چې زما خبرې يې اورېدلي دي. هغوی پوهېږي چې ما
څه ويلي دي.» ۲۲ کله چې عیسی دا خبره وکړه نو د خدای د کور
یو ساتونکي چې په هغه ځای کې ولاړ ؤ، عیسی ته په مخ څپېړه
ورکړه او ويې ويل: «ته څنګه لوی کاهن ته داسې ځواب ورکوې؟»
۲۳ عیسی ځواب ورکړ: «که غلطه خبره مې کړې وي نو ثابته يې
کړه او که سمه خبره مې کړې وي نو ولې مې وهې؟» ۲۴ بیا
حناس هغه لاس تړلی لوی کاهن قیافا ته ولېږه.

## پطروس يوځل بیا د عیسی نه انکار کوي

(متي ۲۶: ۷۱ – ۷۵ او مرقوس ۱۴: ۶۹ – ۷۲ او لوقا ۲۲: ۵۸ – ۶۲)

۲۵ په دې وخت کې شمعون پطروس په هغه ځای کې ولاړ ؤ او
ځان يې توداوه، نو ځينو خلکو چې هلته ولاړ وو ورڅخه پوښتنه
وکړه: «ایا ته هم د هغه د شاګردانو څخه نه يې؟» خو پطروس منکر
شو او ويې ويل: «نه، زه نه يم» ۲۶ د لوی کاهن د نوکرانو نه يو
کس چې د هغه سړي خپلوان ؤ چې پطروس يې ورته غوږ پرې
کړی ؤ، هغه ته وويل: «ایا ته مې د هغه سره په باغ کې ونه لیدلې؟»
۲۷ پطروس يوځل بیا منکر شو او په هماغه وخت کې چرګ اذان
وکړ.

## د پیلاتوس په حضور کې د عیسی محاکمه کېدل

(متي ۲۷: ۱ – ۲، ۲۷: ۱۱ – ۱۴ او مرقوس ۱۵: ۱ – ۵ او لوقا ۲۳: ۱ – ۵)

۲۸ سهار وختي هغوی عیسی د قیافا د کور نه د روم د والي ماڼۍ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته یووړ. یهودیان ماڼۍ ته ورننه نه شول، ځکه چې هغوی نه غوښتل
چې په مذهبي توګه ناپاکه شي او وکولای شي د فسحې ډوډۍ
وخوري. ۲۹ نو والي پیلاتوس دباندې راووت او د هغوی نه یې
پوښتنه وکړه: «تاسو په دې سړي باندې د څه شي تور لګوئ؟» ۳۰
هغوی په ځواب کې وویل: «که هغه مجرم نه وای نو تاته به مو نه
راوستله.» ۳۱ پیلاتوس وویل: «هغه بوځئ او د خپل قانون له
مخې یې محاکمه کړئ.» یهودیانو ورته وویل: «مونږ ته اجازه نشته
چې څوک مړ کړو.» ۳۲ په دې ډول د عیسی هغه خبره رښتیا شوه
چې ویلي یې وو چې هغه به په کوم ډول مرګ مړ شي.

۳۳ پیلاتوس بېرته ماڼۍ ته ننوت او عیسی یې راوغوښت او پوښتنه
یې ترې وکړه: «ایا ته د یهودیانو پاچا یې؟» ۳۴ عیسی ځواب
ورکړ: «ایا ته د خپل ځانه دا خبره کوې یا نورو درته زما په هکله
ویلي دي؟» ۳۵ پیلاتوس وویل: «ایا زه یهودي یم؟ ته دې خپل
قوم او مشرانو کاهنانو ماته راوستلی یې. تا څه کړي دي؟» ۳۶
عیسی وویل: «زما پاچاهي د دې نړۍ پاچاهي نه ده. که زما پاچاهي
د دې نړۍ پاچاهي وای، نو زما پیروانو به جنګ کړی وای ترڅو زه
یهودي مشرانو ته تسلیم نه شم. خو زما پاچاهي دنیاوي پاچاهي نه
ده.» ۳۷ پیلاتوس هغه ته وویل: «نو ته پاچا یې؟» عیسی ځواب
ورکړ: «ته خپله وایې چې زه پاچا یم. زه د دې دپاره پیدا شوی یم
او نړۍ ته راغلی یم چې د حقیقت په هکله شاهدي ورکړم او څوک
چې حقیقت خوښوي هغه زما خبرو ته غوږ نیسي.»

۳۸ پیلاتوس پوښتنه وکړه: «حقیقت څه دی؟»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په عیسی باندې د مرګ حکم

(متي ۲۷: ۱۵ – ۳۱ او مرقوس ۱۵: ۶ – ۲۰ او لوقا ۲۳: ۱۳ – ۲۵)

کله چې پیلاتوس دا وویل، هغه بېرته دباندې راووت، یهودي مشرانو
ته لاړ او اعلان یې وکړ: «زه په ده کې کوم جرم نه وینم. ۳۹ خو د
رسم او رواج له مخې زه هر کال د فسحې په ورځ تاسو ته د زندان
نه یو بندي خلاصوم. ایا تاسو غواړئ چې د یهودیانو پاچا درته ازاد
کړم؟» ۴۰ هغوی بیا چیغې ووهلې: «نه، دا سړی نه غواړو، مونږ
باراباس غواړو!» او باراباس یو داړه مار ؤ.

۱۹ ۱ وروسته بیا پیلاتوس عسکرو ته امر وکړ چې عیسی په
دورو باندې ووهي. ۲ عسکرو د اغزو نه تاج جوړ کړ او د هغه په
سر یې کېښود او بانجاني چپنه یې ورته ورواغوستله. ۳ هغوی به
په وار وار هغه ته راتلل او ویل به یې: «ژوندی دې وي د یهودیانو
پاچا!» او په مخ به یې څپېړه ورکوله. ۴ پیلاتوس یوځل بیا
دباندې راووت او یهودیانو ته یې وویل: «ګورئ، زه هغه تاسو ته
راولم ترڅو تاسو خبر شئ چې زه په هغه کې کوم جرم نه وینم.»
۵ نو عیسی په داسې حال کې چې د اغزو تاج یې په سر ؤ او
بانجاني چپنه یې اغوستې وه دباندې راووت. پیلاتوس هغوی ته
وویل: «وګورئ، هغه سړی دلته دی.» ۶ کله چې مشرانو کاهنانو
او د خدای د کور ساتونکو هغه ولیده نو په چیغو یې شروع وکړه او
ویل یې: «هغه په صلیب باندې ځوړند کړه! هغه په صلیب باندې
ځوړند کړه!» پیلاتوس هغوی ته وویل: «هغه بوځئ او په خپله یې په
صلیب باندې ځوړند کړئ، ځکه چې زه په هغه کې کوم جرم نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وینم.» ٧ خلکو ځواب ورکړ: «مونږ قانون لرو او د هغه له مخې
باید هغه ووژل شي، ځکه چې هغه دعوه کوي چې د خدای زوی
دی.» ٨ کله چې پیلاتوس دا خبره واورېدله نو نور هم ووېرېده،
٩ او بېرته ماڼۍ ته لاړ او د عیسی نه یې پوښتنه وکړه: «ته د کوم
ځای یې؟» خو عیسی ورته ځواب ورنه کړ. ١٠ پیلاتوس هغه ته
وویل: «ولې زما سره خبرې نه کوې؟ ایا ته په دې نه پوهېږې چې زه
دا واک او اختیار لرم چې تا ازاد کړم او یا دې په صلیب باندې
ځوړند کړم؟» ١١ عیسی ځواب ورکړ: «که چېرې خدای تاته واک
او اختیار نه وای درکړی نو تا به زما سره هېڅ هم نه شوی کولای.
نو چا چې زه تاته په لاس درکړم، نو په دې کې زیاته ګناه د هغه
ده.»

١٢ کله چې پیلاتوس دا خبره واورېدله نو کوښښ یې وکړ چې
هغه ازاد کړي خو یهودیانو به بیا چیغې وهلې او ویل یې: «که چېرې
تا دا سړی ازاد کړ نو ته د امپراتور دوست نه یې. هرڅوک چې دعوه
کوي چې زه پاچا یم، نو هغه د امپراتور په خلاف سرکښي کوي.»
١٣ کله چې پیلاتوس دا خبرې واورېدلې نو عیسی یې دباندې
راوویست او بیا پیلاتوس په هغه ځای کې د قضاوت په چوکۍ باندې
کښېناست چې د تیږو د فرش په نوم یادېده او په آرامي ژبه کې ورته
جباتا وایي. ١٤ دا د فسحې د تیارولو ورځ وه او شاوخوا غرمه وه
چې پیلاتوس خلکو ته وویل: «وګورئ، دا دی ستاسو پاچا!» ١٥
هغوی بیا چیغې کړې: «هغه دې ووژل شي! هغه دې ووژل شي! په
صلیب یې ځوړند کړه!» پیلاتوس د هغوی نه پوښتنه وکړه: «ایا
غواړئ چې ستاسو پاچا په صلیب باندې ځوړند کړم؟» مشرانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاهنانو ځواب ورکړ: «مونږ د امپراتور نه پرته بل پاچا نه لرو.»

۱۶ نو بيا پيلاتوس عيسیٰ هغوی ته وروسپاره چې په صليب باندې
يې ځوړند کړي.

## په صليب باندې د عيسیٰ مېخ کول

(متي ۲۷: ۳۲ – ۴۴ او مرقوس ۱۵: ۲۱ – ۳۲ او لوقا ۲۳: ۲۶ – ۴۳)

نو هغوی عيسیٰ لرې بوتلو. ۱۷ عيسیٰ په داسې حال کې چې خپل
صليب يې په اوږه ؤ د ښار نه ووت او هغه ځای ته چې د سر د
کوپړۍ په نوم يادېده او په آرامي ژبه ورته جلجتا وايي، لاړ. ۱۸ په
هغه ځای کې هغوی عيسیٰ په صليب باندې مېخ کړ او د هغه سره يې
دوه کسه نور هم چې يو يې يو اړخ او بل يې بل اړخ ته په صليب
باندې ځوړند کړل او عيسیٰ د هغوی په منځ کې ؤ. ۱۹ پيلاتوس
امر وکړ چې په يوه تخته باندې دې وليکل شي او د صليب په سر
باندې دې ولګول شي او هغه ليکنه داسې وه: «عيسیٰ ناصري د
يهوديانو پاچا.» ۲۰ ډېرو يهوديانو دا ليکنه ولوستله، ځکه په کوم
ځای کې چې عيسیٰ په صليب باندې ځوړند کړای شو هغه ښار ته
نژدې ؤ. دا لوحه په آرامي، لاتينی او يونانی ژبو ليکل شوې وه. ۲۱
د يهوديانو مشرانو کاهنانو پيلاتوس ته وويل: «تا ولې وليکل چې
هغه د يهوديانو پاچا دی؟ تا بايد ليکلي وای چې هغه دعوه کوې چې
د يهوديانو پاچا دی.» ۲۲ پيلاتوس ځواب ورکړ: «هرڅه چې ما
ليکلي دي، ليکلي مې دي.»

۲۳ کله چې عسکرو عيسیٰ په صليب باندې ځوړند کړ نو د هغه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کالي يې راواخيستل او په څلورو برخو يې سره ووېشل، هر يو
عسکر يوه برخه واخيستله او د هغه کميس يې هم واخيست. دا
کميس د پاس نه نيولې تر ښکته پورې د يوې ټوټې نه اوبدل شوې
وه او هېڅ درز په کې نه ؤ. ۲۴ نو عسکرو يو بل ته سره وويل:
«راځئ چې دا څيرې نه کړو او پچه ورباندې واچوو او وګورو چې د
چا کيږي.» داسې وشول ترڅو د خدای کلام هغه ليکنه رښتيا شي:

«اچوي پچه دوی زما په جامو

او وېشي يې په خپل منځ کې.»

نو عسکرو همدا کار وکړ.

۲۵ د هغه صليب څنګ ته چې عيسی ورباندې مېخ کړای شوی ؤ،
د عيسی مور، د هغه ترور، مريم چې د کلوپاس ښځه وه او مريم
مجدليه ولاړې وې. ۲۶ کله چې عيسی خپله مور وليدله چې د
هماغه شاګرد په خوا کې چې په هغه باندې ګران ؤ ولاړه وه، نو هغې
ته يې وويل: «مور جانې! دا ستا زوی دی.» ۲۷ بيا يې هغه شاګرد
ته وويل: «دا ستا مور ده.» او د هماغه وخت نه هغه شاګرد هغه د
خپلې کورنۍ غړې وګڼله.

## د عيسی مړينه

(متي ۲۷: ۴۵ – ۵۶ او مرقوس ۱۵: ۳۳ – ۴۱ او لوقا ۲۳: ۴۴ – ۴۹)

۲۸ د هغه نه وروسته عيسی پوه شو چې ټول کارونه سرته رسېدلي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي او هغه وویل: «زه تږی یم.» په دې ډول د خدای د کلام وینا
رښتیا شوه. ۲۹ په هغه ځای کې د عادي شرابو نه ډک یو لوښی
پروت ؤ. هغوی یو اسفنج په ساده شرابو باندې لوند کړ او د وېلنې د
څانګې په سر یې کېښود او د هغه خولې ته یې ونیوه. ۳۰ کله چې
عیسی هغه ساده شراب وڅښل نو ویې ویل: «پوره شو!» بیا یې سر
ټیټ کړ او خپل روح یې خدای ته وسپاره.

## عسکر عیسی په بغل کې په نېزه وهي

۳۱ څرنګه چې دا د فسحې د تیارلو ورځ وه او یهودیانو نه غوښتل
چې په صلیب باندې د ځوړند شویو مړي د هغه ځانګړي سبت په
ورځ پاتې شي، نو هغوی د پیلاتوس نه وغوښتل چې د هغوی پښې
ماتې کړي او کله چې هغوی مړه شي نو د صلیب نه یې راښکته
کړي. ۳۲ نو عسکر راغلل او د اولني سړي پښې یې چې د عیسی
سره په صلیب ځوړند کړای شوی ؤ، ماتې کړې او بیا یې د هغه بل
سړي پښې ماتې کړې. ۳۳ خو کله چې عیسی ته راغلل نو ویې
لیدل چې هغه لا مخکې مړ شوی دی، نو د هغه پښې یې ماتې نه
کړې. ۳۴ خو یو عسکر عیسی په نېزه باندې په بغل کې وواهه او
سمدلاسه یې د بدن نه ویني او اوبه راوبهېدلې. ۳۵ یو سړی چې په
خپله د دې پېښې شاهد ؤ دغه شاهدي ورکوي او د هغه شاهدي
رښتیا ده. هغه پوهېږي چې د څه په هکله خبرې کوي او هغه رښتیا
وایي ترڅو تاسو هم ایمان راوړئ. ۳۶ همداسې وشول ترڅو د
خدای کلام وینا رښتیا شي چې وایي: «د هغه یو هډوکی به هم مات
نه شي.» ۳۷ او په بل ځای کې وایي: «هغوی به هغه سړي ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګوري چې په نېزه باندې يې سورى کړ.»

## د عيسى ښخول

(متي ۲۷: ۵۷ – ۶۱ او مرقوس ۱۵: ۴۲ – ۴۷ او لوقا ۲۳: ۵۰ – ۵۶)

۳۸ وروسته له هغې يوسف چې د رامه د ښار څخه ؤ او په پټه د
عيسى پيرو ؤ ځکه چې هغه د يهوديانو نه وېرېده، پيلاتوس ته ورغى
او د هغه نه يې وغوښتل چې اجازه ورته ورکړي چې د عيسى مړى
واخلي او ښخ يې کړي. پيلاتوس ورته اجازه ورکړه. نو هغه راغى او
د عيسى مړى يې يووړ. ۳۹ نيکوديموس يعنې هماغه سړى چې د
شپې له خوا وختي د عيسى ليدلو ته ورغلى ؤ، هم راغى او د ځان
سره يې د مر کنډ او د عود د بوټي څخه جوړه شوې مساله چې
شاوخوا څلوردېرش کيلو وه، راوړه. ۴۰ هغوى دواړو د عيسى
مړى يووړ او د يهوديانو د مړو د ښخولو د مراسمو له مخې يې د
خوشبويه تېلو سره په کفن کې تاو کړ. ۴۱ په کوم ځاى کې چې
عيسى په صليب باندې ځړول شوى ؤ هلته يو باغ ؤ او په هغه باغ
کې يو نوى قبر ؤ چې تر هغه وخته پورې په کې څوک نه ؤ ښخ
شوى. ۴۲ خرنګه چې دا د فسحې د تيارولو ورځ وه او قبر هلته
نږدې ؤ نو هغوى د عيسى مړى هلته ښخ کړ.

## د عيسى بيا راژوندي کېدل

(متي ۲۸: ۱ – ۸ او مرقوس ۱۶: ۱ – ۸ او لوقا ۲۴: ۱ – ۱۲)

۲۰ ۱ د يکشنبې په ورځ سهار وختي چې لا تياره وه مريم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مجدليه قبر ته راغله او ويې ليدل چې د قبر د خولې نه تيږه لېرې
شوې ده. ٢ نو هغه په منډه منډه شمعون پطروس او هغه شاګرد ته
چې په عيسی باندې ډېر ګران ؤ ورغله او هغوی ته يې وويل:
«هغوی زمونږ د عيسی مړی د قبر نه وړی او مونږ نه پوهېږو چې په
کوم ځای کې يې اچولی دی.» ٣ نو پطروس او هغه بل شاګرد
ووتل او د قبر خواته لاړل. ٤ هغوی دواړو منډې وهلې، خو هغه
بل شاګرد د پطروس نه مخکې شو او د هغه نه لومړی قبر ته ورسېده.
٥ هغه قبر ته ورټيټ شو او دننه يې وکتل او کفن يې وليده چې
هلته پروت ؤ، خو قبر ته وردننه نه شو. ٦ بيا شمعون پطروس
راورسېد او قبر ته ورننوت. هغه هم کفن وليده چې هلته پروت ؤ،
٧ او هغه دستمال چې د عيسی د سر نه تاو ؤ، هغه د کفن سره نه
ؤ، بلکې هغه په خپله قات شوی ؤ او په بل ځای کې پروت ؤ. ٨
بيا هغه بل شاګرد چې په اوله کې قبر ته رسېدلی ؤ هم قبر ته
ورننوت او چې کله يې هغه وليد، نو باور يې وکړ. ٩ ځکه چې
هغوی لا تر دې وخته پورې د خدای په کلام باندې پوه شوي نه وو
چې ويلي يې وو چې عيسی بايد د مړو نه بيا راژوندی شي. ١٠ نو
بيا هغه دواړه شاګردان بېرته کور ته لاړل.

## عيسی مريم مجدليې ته ښکاره کېږي

(متي ٢٨: ٩، ١٠ او مرقوس ١٦: ٩ – ١١)

١١ خو مريم د قبر نه دباندې ولاړه وه او ژړل يې. هغې لا ژړل
چې ټيټه شوه او دننه قبر ته يې وکتل ١٢ او دوه فرښتې يې په
سپينو کاليو کې وليدلې چې په هغه ځای کې چې د عيسی مړی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پروت ؤ يوه يې سرته او بله يې پښو ته ناسته وه. ۱۳ هغوی د هغې
نه پوښتنه وکړه: «ای ښځې، ته ولې ژاړې؟» هغې ورته وويل: «ځکه
چې هغوی زما د استاذ مړی وړی دی او زه نه پوهېږم چې چېرته يې
اچولی دی.» ۱۴ کله چې هغې دا خبره وکړه نو مخ يې راواړاوه او
عيسی يې وليده چې هلته ولاړ دی، خو هغې ونه پېژانده چې دا
عيسی دی. ۱۵ عيسی هغې ته وويل: «ای خورې، ته ولې ژاړې؟
څوک لټوې؟» هغې دا ګومان وکړ چې ګوندې هغه باغوان دی نو
ورته ويې ويل: «ښاغليه، که چېرې تا د هغه مړی وړی وي نو ماته
ووايه چې هغه دې په کوم ځای کې اچولی دی چې زه لاړه شم او
هغه راپيدا کړم.» ۱۶ عيسی هغې ته وويل: «مريمې!» مريم هغه ته
مخ ورواړاوه او په آرامي ژبه کې يې ورته وويل: «ربوني!» يعنې
استاذه. ۱۷ عيسی هغې ته وويل: «ماته لاس مه راوړه، ځکه چې
زه لا تر اوسه پلار ته نه يم تللی. خو زما ورونو يعنې زما شاګردانو
ته ورشه او هغوی ته ووايه چې زه اوس خپل پلار ته چې ستاسو
پلار هم دې او خپل خدای ته چې ستاسو خدای هم دی، پورته
ورځم.» ۱۸ نو مريم مجدليه لاړه او شاګردانو ته يې وويل چې ما
عيسی ليدلی دی. بيا هغوی ته يې د هغه پيغام ورساوه.

## عيسی خپلو شاګردانو ته ځان ښکاره کوي

(متي ۲۸: ۱۶ – ۲۰ او مرقوس ۱۶: ۱۴ – ۱۸ او لوقا ۲۴: ۳۶ – ۴۹)

۱۹ د هماغې يکشنبې په ماښام کله شاګردان د يهوديانو د مشرانو
له وېرې د تړلو دروازو شاته سره راټول شوي وو، عيسی راغی او د
هغوی په منځ کې ودرېده او ويې ويل: «سلام دې وي پر تاسو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې!» ۲۰ کله چې هغه دا وويل نو هغوی ته يې خپل لاسونه او
خپل بغل ورونبودل. کله چې شاګردانو خپل استاذ وليده نو ډېر
خوشحاله شول. ۲۱ عيسی يوځل بيا وويل: «سلام دې وي پر
تاسو باندې! لکه څنګه چې پلار زه رالېږلی يم نو همداسې زه هم
تاسو لېږم.» ۲۲ بيا يې په هغوی وپوکل او ويې ويل: «زما له خوا
روح القدس قبول کړئ. ۲۳ که چېرې تاسو د چا ګناهونه وبخښئ
نو هغوی به وبخښل شي. که تاسو هغوی ونه بخښئ نو هغوی به ونه
بخښل شي.»

## عيسی او توما

۲۴ د دولسو شاګردانو څخه توما چې بل نوم يې غبرګونی ؤ، په
هغه وخت کې چې عيسی راغی د نورو سره هلته موجود نه ؤ. ۲۵
نو نورو شاګردانو هغه ته وويل: «مونږ استاذ ليدلی دی.» خو هغه
ورته وويل: «ترڅو پورې چې زه د هغه په لاسونو باندې د مېخونو
نښې ونه وينم او خپلې ګوتې ورباندې کېنږدم او خپل لاس د هغه د
بدن په بغل کېنږدم نو هېڅکله به باور ونه کړم.»

۲۶ يوه هفته وروسته د هغه شاګردان يوځل بيا په کور کې سره
راټول شوي وو او توما هم د هغوی سره ؤ. سره له دې چې دروازې
بندې وې، خو عيسی راغی او د هغوی په منځ کې ودرېده او ويې
ويل: «سلام دې وي پر تاسو باندې!» ۲۷ بيا يې توما ته وويل:
«خپلې ګوتې دې دلته کېږده، زما لاسونو ته وګوره او خپل لاسونه
راوړاندې کړه او زما په بغل باندې يې کېږده او نور شک مه کوه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بلکې ایمان ولره.» ۲۸ توما وویل: «ای زما استاذه او زما خدایه.»
۲۹ عیسی هغه ته وویل: «په دې خاطر چې زه دې ولیدم نو ایمان
دې راوړ؟ بختور دي هغه خلک چې زه يې نه يم لیدلی او ایمان
راوړي.»

## د دې کتاب مقصد

۳۰ عیسی د خپلو شاګردانو په حضور کې ډېرې نورې نښې
وښودلې چې په دې کتاب کې نه دي لیکل شوي. ۳۱ خو دا نښې د
دې دپاره لیکل شوي دي چې تاسو په دې ایمان راوړئ چې عیسی
هماغه مسیح دی او د خدای زوی دی او په هغه باندې په ایمان
راوړلو سره به د هغه په نوم تلپاتې ژوندون ولرئ.

## عیسی اووه شاګردانو ته ځان ښکاره کوي

۲۱ ۱ څه موده وروسته عیسی یوځل بیا د جلیل د دریاب په
غاړه شاګردانو ته خپل ځان ښکاره کړ. هغه خپل ځان په دې ډول
ښکاره کړ: ۲ شمعون پطروس او توما چې د غبرګوني په نوم
يادېده، نتنايیل چې د جلیل د قانا څخه ؤ، د زبدي دوه زامن او دوه
نور شاګردان هم هلته وو. ۳ شمعون پطروس هغوی ته وویل: «زه
ځم چې ماهیان ونیسم.» هغوی وویل: «مونږ هم درسره ځو.» هغوی
روان شول او په کشتۍ کې سپاره شول، خو په هغه شپه يې هېڅ ونه
نیول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ کله چې سهار شو نو عیسی د دریاب په غاړه ولاړ ؤ، خو
شاګردانو هغه ونه پېژانده چې هغه عیسی دی. ۵ عیسی هغوی ته
ناري کړې: «ای ملګرو، کوم څه مو نیولي دي؟» هغوی ځواب ورکړ:
«نه.» ۶ عیسی هغوی ته وویل: «خپل جال مو د کشتۍ ښي
خواته ورواچوئ نو یو څه ماهیان به ونیسئ.» نو هغوی جال
ورواچاوه او دومره ډېر ماهیان یې ونیول چې دوی نه شو کولای چې
جال بېرته کشتۍ ته راکاږي. ۷ بیا هغه شاګرد چې په عیسی
باندې ډېر ګران ؤ پطروس ته وویل: «هغه سړی چې د دریاب په
غاړه ولاړ دی، هغه زمونږ استاذ دی!» کله چې شمعون پطروس دا
خبره واورېدله چې هغه عیسی دی نو خپل لنګ یې وتړلو ځکه چې
هغه خپل ایستلي ؤ او اوبو ته یې ورټوپ کړ. ۸ نور شاګردان په
کشتۍ کې د دریاب غاړې ته راغلل او د ماهیانو ډک جال یې راکش
کاوه، ځکه چې هغوی د وچې نه شاوخوا سل متره لېرې وو. ۹
کله چې هغوی وچې ته راووتل نو هلته یې د سکرو اور ولیده چې
ماهي ورباندې پروت ؤ او لږه ډوډۍ هم وه. ۱۰ عیسی هغوی ته
وویل: «د خپلو ماهیانو نه چې همدا اوس مو ونیول لږ څه راوړئ.»
۱۱ شمعون پطروس بېرته کشتۍ ته وخوت او جال یې وچې ته
راوویست چې په کې یوسلو دري پنځوس غټ ماهیان وو، خو د
دومره زیاتو ماهیانو سره بیاهم جال ونه شلېده. ۱۲ عیسی هغوی
ته وویل: «راشئ د سهار ډوډۍ وخورئ.» په شاګردانو کې هېچا هم
دا جرات ونه کړ چې د هغه نه پوښتنه وکړي: «ته څوک یې؟» ځکه
چې هغوی پوهېدل چې دا د هغوی استاذ دی. ۱۳ نو عیسی
راوړاندې شو، ډوډۍ یې راواخیستله او هغوی ته یې ورکړه او ماهیان
یې هم ورکړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ دا درېم ځل ؤ چې عیسی د مړو نه د راژوندي کېدلو نه
وروسته شاګردانو ته ښکاره شو.

## عیسی او پطروس

۱۵ د ډوډۍ خوړلو نه وروسته عیسی د شمعون پطروس نه پوښتنه
وکړه: «ای د یوحنا زویه شمعونه، ته د دې نورو ټولو نه زما سره
زیاته مینه کوې؟» پطروس ځواب ورکړ: «هو، استاذه، ته پوهېږې
چې په ما باندې ګران یې.» عیسی وویل: «زما په وریو باندې پام
کوه.» ۱۶ عیسی په دوهم ځل هغه نه پوښتنه وکړه: «ای د یوحنا
زویه شمعونه، ایا زما سره مینه کوې؟» پطروس ځواب ورکړ: «هو،
استاذه، ته پوهېږې چې په ما باندې ګران یې.» عیسی هغه ته وویل:
«زما په پسونو باندې پام کوه.» ۱۷ په درېم ځل عیسی د هغه نه
پوښتنه وکړه: «ای د یوحنا زویه شمعونه، ایا زه درباندې ګران یم؟»
پطروس غمجن شو ځکه چې هغه ترې په درېم ځل دا پوښتنه وکړه:
«ایا زه په تا باندې ګران یم؟» نو پطروس هغه ته وویل: «استاذه، ته
د هرڅه نه خبر یې، ته پوهېږې چې په ما باندې ګران یې.» عیسی
هغه ته وویل: «زما په پسونو باندې پام کوه. ۱۸ په یقین سره زه
تاته دا وایم کله چې ته ځوان وې نو خپله ملا به دې خپله تړله او
هر چېرته چې دې غوښتل نو هلته به تللې، خو کله چې زوړ شې نو
لاسونه به دې بل چاته غځولي وي چې ملا دې وتړي او هغه ځای
ته به دې بوځي چې ته ورته تلل نه غواړې.» ۱۹ عیسی دا خبره د
دې دپاره وکړه چې دا ښکاره کړي چې پطروس به په څه ډول مړ
کیږي او خدای ته به جلال ورکوي. بیا عیسی هغه ته وویل: «ما

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پسې راځه.»

## عيسی او د هغه ګران شاګرد

٢٠ پطروس مخ راواړاوه او ويې ليدل چې هغه شاګرد ورپسې شاته
راروان دی چې په عيسی باندې ډېر ګران ؤ، يعنې هغه شاګرد چې د
ماښام ډوډۍ په وخت کې د عيسی په څنګ کې ناست ؤ او پوښتنه
يې ترې کړې وه: «استاذه، هغه څوک دی چې تا به خپلو دښمنانو ته
تسليموي؟» ٢١ کله چې پطروس هغه شاګرد وليده نو د عيسی نه
يې پوښتنه وکړه: «په هغه باندې به څه کيږي؟» ٢٢ عيسی ځواب
ورکړ: «که زه وغواړم چې هغه دې زما تر راتګ پورې ژوندی پاتې
شي نو په دې کې ستا څه کار دی؟ ته ما پسې راځه.» ٢٣ نو د
عيسی د پيروانو په منځ کې دا خبره خپره شوه چې هغه شاګرد به نه
مړ کيږي، خو عيسی داسې ونه ويل چې هغه به نه مړ کيږي، هغه
يوازې دا ويلي وو: «که زه وغواړم چې هغه دې زما تر راتګ پورې
ژوندی پاتې شي نو په دې کې ستا څه کار دی؟» ٢۴ دا هماغه
شاګرد دی چې دا شيان يې ليکلي دي او د هغو په هکله شاهدي
ورکوي او مونږ پوهيږو چې د هغه شاهدي رښتيا ده.

## پای

٢۵ عيسی ډېر نور کارونه هم کړي دي. که هغه ټول په کتابونو کې
ليکل شوي وای نو زه ګومان کوم چې په ټوله نړۍ کې به د دې
کتابونو دپاره چې ليکل شوي وای، هيڅ ځای نه وای.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © د ختيځ افغانستان ۲۰۲۱
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.